احمد شاه ((وحدت)) ٤٨٦
Ahmad Shah (Vahdat)

شفق

سال تاسیس: ۱۳۵۹
ارگان نشراتی حزب اسلامی افغانستان

مشوره یی به رهبران جهاد ...

اسلام دهرچاپه وړاندې دترقۍ لارې سمې کړې دي

پروفیسرنواز طائر

اسلامي حکومت زموږ دټولنې مقدردی

تورن عبدالسلام

دیوې نظریې ماته
دیوې امپراتورۍ ماته

فرمان الهي(ج)

الهكم التكاثرۙ حتي زرتم المقابر ۗ كلاسوف تعلمون ۙ

غافل كردشماراازيك ديگربسيارطلبي مال تاوقتيكه رسيديدبگورستانها نى نى خواهيددانست

ثم كلاسوف تعلمون ۗ كلالوتعلمون علم اليقين ۗ

بازمي گوييم ني ني خواهيددانست ني ني اگربدانيد حقيقت كار را به علم يقين غافل نمي شديد

لترون الجحيم ۙ ثم لترونها عين اليقين ۙ

البته خواهيد ديد دوزخ را بازالبته خواهيد ديددوزخ را ديدن ظاهربي شبه

ثم لتسئلن يومئذ عن النعيم ۙ

بازالبته سوال كرده خواهيدشد آن روزازنعمت

فرمان رسول الله صلي الله عليه وسلم

عن عمر و بن عوف الانصاري رضي الله عنه قال رسول الله صلي الله عليه وسلم . فوالله مالفقر اخشي عليكم ولكني اخشي ان تبسط الدنيا عليكم كمابسطت علي من كان قبلكم فتنافسوها كماتنافسوها فتهلككم كما اهلكتهم

متفق عليه

ترجمه : حضرت عمروبن عوف انضاري رضي الله عنه روايت مي كندكه پيامبر عليه السلام فرمودند قسم بخدا از فقربالاي شما نمي ترسم لاكن مي ترسم از اينكه دنيا براي شما چنان فراخ شود طوريكه بالاي مردمان قبل از شما فراخ شد پس شمادران ازيكديگر سبقت كنيد مثليكه آنها درآن ازيكديگرسبقت مي جستند پس شمارانيز چنان هلاك كند طوريكه آنها راهلاك كرد.

" متفق عليه "

شفق

سال تاسیس: ۱۳۵۹

ارگان نشراتی حزب اسلامی افغانستان

دورسوم ، سال اول ، شماره اول (میزان - عقرب ۱۳۷۰)

بسم الله الرحمن الرحیم

مطالب این شماره

۱- پیام شفق
۲- دیوي نظریی ماته ...
۳- له پروفیسر نواز طائر سره مرکه
٤- د منځني آسیا دخپلواکي ...
٥- دننگرهار له ولایتي امیر سره مرکه
٦- بحث مختصري پیرامون علم ...
۷- دمرکزي آسیا اسلامي جمهوریتونه ...
۸- مقدمه یي بربینش اسلامي
۹- ربښتیني اتلان
۱۰- دادیب تولنیز رسالت
۱۱- انواع شعر درادب دري
۱۲- نعت (شعر انتخابي این شماره)
۱۳- رشد اساسات اجتماعي وعقلي ...
١٤- حضرت سعدبن ابي وقاص
١٥- بیانیه استاد ذره
١٦- سیدجمال الدین ...
۱۷- نبوي لاربنووني او...
۱۸- بحثي پیرامون حقوق العباد ...
۱۹- مختصري درباره ورود اسلام ...
۲۰- بحثي پیرامون حدودشرعي ...
۲۱- نیمگري ارمان (لنډه کیسه)
۲۲- غزل
۲۳- غزل
٢٤- داغ نارساییها (شعر)
٢٥- بنده آزاد (شعر)
٢٦- پیوستون (شعر)
۲۷- مذهب عشق (شعر)
۲۸- لویه خدایه (شعر)
۲۹- ترانه وطن (شعر)
۳۰- درمقدم شفق (شعر)

احمد شاه ((وحدت)) ۷۸۹
Ahmad Shah (Vahdat)

سخني با خوانندگان

شفق تقريباً از نخستين روزهاي آغاز جهاد مسلحانه ملت مؤمن ما در برابر لشکرسرخ وايادي خود فروخته آن ،آغاز به نشر نموده است ودربعد فرهنگي انقلاب خدمات شايان وفراموش ناشدني انجام داده است. شفق يکبار درزمان وحدت نيروهاي جهادي تحت عنوان " اتحاد اسلامي مجاهدين افغانستان " بمنظور توحيد وهماهنگي نشرات جهادي از نشر بازماند، اما بعد از انحلال اتحاد بار ديگر برافق فرهنگي انقلاب اسلامي ما درخشيدن گرفت وبارمهم امانت روشنگري نيرو هاي جهادي وتوجيه اهداف انقلاب اسلامي را بردوش کشيد، ولي متاسفانه باردوم در سال ۱۳٦۹ (بعداز نشر شماره برج جوزا - سرطان) نسبت مشکلات مالي متوقف گرديد . خوشبختانه که شفق بعد از سکوت بيش از يك سال اينك بارديگربراي بارسوم بسخن امد وخدمات فرهنگي خود را از سرگرفت اميدواريم نشر مجدد (دورسوم) شفق عطش علمي وفرهنگي خوانندگان گرامي را فرونشاند و باز با سرنوشت هاي قبلي مواجه نشود.

مسؤول مدير : فدامحمد "فايض"
مرستيـــال : عبدالرحمن "نثار"
ليکوال غړی : محمدرحيم "خنجر"

مشوره يي به رهبران جهاد در رابطه باحل قضيه افغانستان

سخني را از اين گفته توصيه آميز يك دانشمند پاكستاني به رهبري جهاد افغانستان آغازمي كنيم كه ما قضيه كشمير را در ميدان جنگ كمايي كرديم ولي برسرميز مذاكره آنرا باختيم كه تاحال نتوانستيم اين اشتباه مان را تلافي كنيم بناءً رهبري جهاد افغانستان بايد در زمينه خيلي هوشيار باشد.

راستي يكي از فوايد مطالعه تاريخ همين است كه انسان از تجارب تاريخ استفاده كند وبر راهي قدم نگذارد كه برگرداب هلاكت منتهي مي شود جهاد سيزده ساله افغانستان وقربانيهاي بي دريغ ملت مؤمن ما اكنون قضيه افغانستان را به آستانه پيروزي خيلي نزديك ساخته است همين ضرب شمشير مجاهدين دلير وقهرمان ماست كه دشمن را مجبور ساخته است با مجاهدين بر سرقضيه افغانستان تفاهم كند. شما ده سال قبل را كه لشكر روسي درميهن ما مصروف كشتار هاي دسته جمعي ، ويرانيها وخرابيها بود ، درنظر بگيريد.، آن وقت اين موقف مجاهدين كه اطراف اصل قضيه مجاهدين وروسها اند بايد بين اين دونيرو درمورد مفاهمه صورت گيرد ، براي روسها هرگز قابل پذيرش نبود واين حرف را ببادمسخره مي گرفتند، زيرا روسها پذيرش اين امر را نشانه اعتراف برشكست امپراتوري سرخ در برابر مجاهدين تلقي مي كردند.

وهرگز راضي نبودند تن به چنين ذلت دهند اما اكنون كه لشكر سرخ در برابرمجاهدين شكست خورد ه ومجبور به خروج از افغانستان شد واينك امپراتوري سرخ درحال فروپاشي است وروس ديگر ياراي آنرا ندارد تا رژيم مزدوركابل را درساحات نظامي اقتصادي وغيره كمك كند بناءً حاضر شده است با مجاهدين دورميز مذاكره بنشيند.

و فودي كه بخاطر مذاكرات سياسي با روسها تعيين مي شود بايد افرادي باشند كه از يك بينش عميق وتجارب فراوان سياسي برخوردار باشند وبه روسها فرصت ندهند كه فقط مساله اسراي جنگي خود را مطرح كنند وبه مجاهدين يك حكومت مشترك با گروه بدنام خلق - پرچم راپيشكش كنند بلكه بايد ازچنان موضع بلند ومتين باروسها حرف بزنند كه از تصور روسها خيلي ها بلند بوده حيثيت جهاد مقدس ما را لكه دار نسازد.

روسها بازيرپا كردن تعهدات عدم مداخله درامور يك ديگر با افغانستان وشكستن قوانين بين المللي بركشور ما تاختند وكشور مارا به ويرانه يي تبديل كردند . روسها بايد برجنايات وقانون شكنيهاي خود اعتراف كنند ؛ غرامات جنگي را متقبل شوند؛ دست ازكمك باحكومت اجير ومزدور نجيب بكشند بعداً مي شو د مسأله اسراي جنگي مطرح شود وراجع به آن حرف زده شود.

ما ميدانيم كه فشار هاي كشور هاي استكباري در رابطه با حل غير اسلامي قضيه افغانستان زياد است ولي اكنون مساله همه وهمه مربوط به رهبري جهاد افغانستان است وبه تعبيرشاعر "اكنون" شود پديد كه نامرد ومرد كيست

كيست كه مجنون وار همه هوش وفراست سياسي خود را بخاطر رسيدن به شاهد قدرت از دست ميدهد وكهيست كه درين شرايط مهم وسرنوشت ساز هم سنگر جهاد را داغتر نگه مي كند وهم بر سرميز مذاكره برنده مي شود. اين مساله ارتباط دارد به ايمان راسخ ،عزم آهنين وبينش اسلامي وسياسي .اكنون سرنوشت ملت ما مربوط است به ثبات ويا خدا ناخواسته لغزش رهبري جهاد . ما اميد واريم رهبران ما قضاوت تاريخ را ناديده نگيرند ودر زمينه قدمهاي متيني بردارند.

دیوې نظریې ماته
د یوې امپراتورۍ ماته

سباوون

لکه چې ښکاره ده ، په روس کې دکمونیستي الواک او نظریې حاکمیت دروسي امپراتورۍ په پراختیا اوپیاوړتیا کې پوره لاس وکړ . کمونیزم چې دسدې دغوره اوبرتري نظریې نوم و،نوروسانوددې لپاره چې په اصطلاح دبرتري نظریې حاملان اوبیرغچیان وو، دخپل کمونیستي فکراوالواک اوکه بهترووایو دخپلې ټولواکمنې دغځولو اوپراخولوپه لارکې هانداوزیارایست . له دې سره سره دنړې دزیاترو هیوادو وګروپه هم هغوی خپل ژغورندویان اونجات دهنده ګان ګڼل . او داپردې چې روسي ډنډوورچیانو به ورته کمونیستي ټولنه یوه جنت نظیره اوصالحه ټولنه معرفي کوله ، چې دهرڅه پرېماني به پکې وه . دکور ، کالي اوډوډې ستونزه به دغلته چاهیڅ نه پیژندله . ګوندي اوتربګنې خوبه پکې نه وه نه وه ، چې دولت اوپولیس اوتانه دار به هم پکې نه وو . ځکه چې کور، کالي اوډوډې هرچاته پوره پوره ورسیږي ، نوبیا دولت اوپولیس اوتانه دارته څه ګوده اواړه بیداکیږي . که څه هم چې کور، کالي اوډوډې دانساني نوعي یواځینې اوایکې یوه اړتیانه ده ، بلکې هغه نورې ډیرې غوښتنې اواړتیاوې هم لري، لکه په خپله په روس کې دخروسچوف دیوې نسبي آزادۍ درامنځته کیدو په وختوکې چې یوکتاب خپورشو چې نوم یې و : " انسان یواځې په ډوډې نه پایي " .

څرګنده ده ، دنړې مظلومو اوداستعمارواستبداد په پنجوکې راګیرو اولسونه چې ددغسې یوې ټولنې صفتونه اوستاینې اوریدلې، نونالیدلې به پرې مینیدل اودې ټمنابه یې په زړه کې ټوپونه اوغورځنګونه وهل چې کاش دوی هم دیوې دغسې ایډیالې اوځونه ټولنې خاوندان شواي . اواکثریهرنی ښکیلاک ته هم په یوه هیوادکې دلاسوهنې موقع اوچانس هغه مهال په لاس ورځي چې دهغه هیوادوګړي له راز رازمادي اومعنوي محرومیتوسره امبرچمبراولاس په ګریوان وي . هغوی چې ټول عمریې په محرومیتونواواوبیوسیوکې تیرشوي وي، تل یې دا یوه ټمنایه زړه کې ګرځي چې یوڅوك راپیداشواي اودوی یې داستبداد اوزورواکي له خونړیو پنجوخلاص کړاي .

ددغه پرنسیپ اواصل له مخې و، چې زیاتره هیوادو روسي کمونیزم خپل نجات دهنده وګاڼه اودهغه منني ته یې غیږ پرانیسته . داسې ورځ اومیاشت به نه وه چې یوه نسبتاً خپلواك اوخپلږواك هیوادبه دکمونیزم په ګوډال کې نه راغورځیده ، اوخپله ماته ګوډه خپلواکي به یې له لاسه نه ورکوله . اوچې یوځل به یې ټمیندك وخوړاوپکې راوبه غورځید، نوبیابه یې بې له خدایه (ج) څوك دپوښتنې هم نه وو .

دمنځنې آسیا دایللیو جمهوریتوبورنوونکې اوویرجن سرګذشت زموږ دوړاندې دي . دغلته چې دجفاپیشه اوناااهلو امیرانودظلم او زور زیاتي له لاسه زیاتره وګړیو کمونیزم ته هرکلي اوښه راغلاست ووایه اوهغه یې خپل نجات دهنده وګاڼه ، دامنکرنه لري البته دروسي یرغلګرپوځ په زورزیاتي اولوټ تالان هم سترګې نشي پټیداي چې دمحکوموااسلامي

جمهوریتودامیرانوترهغوپه کراتو
زیات بورنوونکي وو .
چي لاروسي ښکیلاکګروبه دخلکو
داحساساتو درپارولو له پاره
مخکي له مخکي په
موردنظرهیوادکي ځانته پلویان
پیداکړي اوپه کارګومارلي وو .
دروس پلویو په باب یوچاڅه
ښه ویلي دي : زیاتره هیوادونه
داکوښښ کوي چي په خپلو
دیپلماتیکو غړیواوسفارتکاروکي
یوڅوتنه جاسوسان اوځږي هم
نوروهیوادوته ولیږي ، چي دخپل
متبوع هیوادپه پلوي دغلته
کاروکړي . اودخپل کار اوزیارپه
نتیجه کي ددغه هیواد اکثریت
دخپل هیواد اودولت خواخوږي
کاندي . لکه چي وموویل روسي
واکمنو دکمونیستي استکبار
اوسترچاري دلاپیاوړتیا اوپراختیاله
پاره دغه ټکي ته پوره پاملرنه
کړي، اودیوڅوتنو سفارتکارو
پرځاي یي په مورد نظرهیوادکي
په زرونو اولکونو داسي وګړي
روزلي چي په پوره مینه اورغبت
دسفارتي جاسوسانو اوځږیودنده
پرمخ بیایي، او دروسي ټولواکمني
دښکیلاکي اهدافو اوګټوپه لارکي
هڅه اوهاندکوي . که رښتیا ووایو،
دروسي کمونیزم دپراختیا
یوسترلامل هم دهمدغه رازځان
پلوریو اوهیوادپلوریو ځږیو
(جاسوسانو) شتون و، چي په ګڼو
هیوادوکي یي ځانته پیداکړي وو .
خوله ښه بخته زموږپه مسلمان
اواتل هیواد افغانستان کي یي
دځان پلوریو اوهیواد پلوریو شمیر
دومره کم وچي په خپله روسي
واکمنوپري هم چندان حساب نه
کاوه . نوځکه خودغه عناصر
دانقلاب پرځاي لومړي
دکودتاګانواوتوطئو له لارو واك ته
ورسول شول اوچي پردسیسو
اوچلوتوهم ونشوه ، نوبیایي
سورپوځ مخکي شو او د
وارساپکت دشویلو اوالوتکو په
زوربي داقتدار پرګدي ټینګ کړل
لکه چي نغوته موورته وکړه
دروسي کمونیزم دپرمختګ اوبره
تګ سترعامل دروسي ټولواکمني
دډنډور چیانو داتبلیغ و، چي
ګواکي هغه یوه برتره اواوڅاره
نظریه ده ، اودبشردټولو ستونزوله
توغه ښه تراوتلاي شي . خوچي
یوځل به کوم هیواد دسوکال اوبسیا
ژوندانه په هیله اواسره کمونیزم
ومانه او دروس په اقماروکي به
راغي . په بله وینا ددغه
هیواداوټولني وګړوته به دکمونیزم
غړوندي ورترغاړي شو، نوبیا به
ورته ددي څه چاره نه ورتله چي
اوس بیرته څرنګ خپل سرله دغه
ساډوبي غړوندي څخه وباسي .
اوچي له خپلي خپلواکي
اوخپلڅواکي نهیلي به یي دخپل غم
اوماتم کیسه ماته ګوډه راشروع کړه
، نوسل انته اولعنته به پري وویل
شول چي دوي دبهرنیو په لمسون
غواړي دروس داشتراکي
جماهیرواتحادبدنام کړي . اوهغه به
دفیودالانو، بورژواګانو اوپانګه
واالوتبلیغ وګانه شوچي دکمونیزم
اوروس پرضد ددغه رجعت پسنده
دلګیوله خوا ترسره کیږي ، اوهدف
یي په نړیواله سویه دکمونیزم
ایزوله کول (کونج ته کول) دي .
خوڅه نتیجه پري ځکه نشي
مرتبیداي چي دغه چاربي هغه
دچاخبره دتاریخ دخرڅږپرشاڅرخو
لویه ماناده .
خومسلمان افغان اولس دغه په
اصطلاح نه کیدوني اوناشوني
کارکیدوني کړ اودتره کي، امین
اوکارمل اونجیب اودهغوي
دبادارانو دادعاګانو اوباټوبرعکس
یي دکمونیزم دتاریخ څرخ
پرشاوتخرخاوه او له شرمیدلي ماتي
سربي مخ کړ .
هو !
دکلیمي په واقعي مفهوم
اومانا لومړي ځل داسلامي
اوکمونستي نظریو ترمنځ
ټکراوتصادم رامنځته شو.
کیداي شي پوښتنه وشي چي
ترافغانستان دمخه خو روسي
واکمن پربخارا اودمنځني آسیا
پرنوروواسلامي خاورو (جمهوریتو)
هم بلوسیدلي وو، نوکه خبره
پرکمونیستي نظریي داسلامي
هغي دبرتري اوځواکمني وي،
نوبیا ولي کمونیزم په بخارا
اودمنځني آسیا په نورواسلامي
خاوروکي مات نشو ؟
دلته په لنډو دومره وایوچي
داسلامي خاورودتش په نامه
اسلامي حکومتواوناب اوساهواسلام
ترمنځ دځمکي آسمان توپیردي
اوباید چي وي . هلته یوپلو
دامراوپه اصطلاح اسلامي
حکومتونه وو، چي له نامه پرته
یي یوشي هم اسلام ته نه پاتي کیده
، اوبل پلودروسي ډنډورچیانو تبلیغ
اوادعاګاني وي چي روسي ټولنه
به یي یوه نمونه ټولنه معرفي کوله
خو تبلیغ اوادعا هیڅکله هم
دواقعیت ځاي نشي نیولاي ،
مګرهله چي دخپل بل " ملګري "
زور په مرسته اوملاتړپرخلکو ومنل
شي ." اوچي بیا کله هم دروسي
کمونیستانو دتبلیغ او زوربه
وړاندي افغانانوخپل تاریخساز
مقاومت پیل کړ، نوداسلام په ننګ
دخپل پیل کړي مقاومت په زوربي
دکمونیزم له کرغیړني ځیري څخه
درپااوتزویر ټولي پردي ایسته کړي
پاتي په (١٠) مخ

اسلام دانسان دترقي لپاره هرچاته لاري سمي كړي دي ...

پروفيسرنوازطائر

پروفيسرنواز طائر صيب ،

لكه چي ښكاره ده تاسي محترم زموږ دجهادله لومړنيو خواخوږوڅخه يي، لس دولس كاله دمخه ستاسي يوشعر چي مطلع يي وه " په سپين غربل درته بيا اوردي " په شفق مجله كي خپورشو، اوبيا ترهغه وروسته نوروپاكستاني ليكوالو اوشاعرانو ستاسي په ليكه زموږ دانقلاب په پلوي اوملاتړخپلي قلمي همكاري پيل كړي چي كتابونه پري ډك دي، اوس ترېوي اوږدي مودي وروسته يوځل بيا غواړو ستاسي لوړادبي نظريات ديوي مركي په ترڅ كي دشفق درنولوستونكوته وړاندي كړونوستاسي له ادبي هلوځلوبه يي پيل كړو اودابه په لنډوراته ووايي چي فكري وده اونشونما موبه څه ډول چاپيريال كي وشوه ؟

يووخت دلته په نيمه وچه كي دترقي پسندادب ډيره چرچه وه ستاسي په نظر اسلامي ادب دغه دكمونيزم په خم كي رنګيدلي په اصطلاح ترقي پسندادب څومره مات كړي دي ؟

زموږجهادي ادب څه ورارزښابي كوي اودلاموثرتوب له پاره يي كومي لاري چاري په ګوته كوي ؟

دسياست اوادب اړيكي څه ډول ښيري ؟ كه يوپربل يي داغيزمنتوب په باب راته يوڅه ووايي ؟

داسلامي ادب عمده خطوط اوكرښي كومي ګڼي ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

دشفق په كومه ګڼه كي چي زمايونظم "په سپين غربل درته بيا اووردي " شايع شوي و دادهغه احساس نتيجه وه كوم چي زماپه زړه كي دهغه وخت دحالاتومخه راولاړشوي و چي دافغانستان په نجيب ملت اودهغه په اسلامي خاوره دسورانقلاب ناتارګډكړ . ماته ښه يادشي چي ددغي پيښي په وروښي شپه چي كله ماحسب عادت دكابل راډيو دشپي دوروستي وخت پروګرام " دښومه دم انګازي لپاره ولګاوه ، نودپروګرام داوريدو پرځاي مي تشه دسازونو موسيقي ترغوږشوه . دغه پروګرام مادډيروكلونو داسي په باقاعدګي سره اوريده ځكه داراته څه عجيبه شان ښكاره شوه چي داڅه وشول ؟ ماپه زړه ټكه وخوړه او همدغسي ريډيومي لګيدلي پرېښودواوورته



دپيښوردپښتواكاډمي ډايركټرپروفيسرنوازطائر

كيناستم . تېوله شپه مي په ويښه تيره كړه اوڅي دشپي دري بجي شوي نويوهيبتناك آوازمي له دي سټيشن نه په غوږ وراغي چي په فارسي كي يي بيابيا دغه خبره تكراروله چي " دورخانان ګذشت ، دورامينيان ګذشت " زه پوه شوم چي دامين داقتدارلكه چي ختم كړي شو اودهغه نه اختيار بل چاترلاسه كړو . داڅوك وو ؟ څنګه وشوه ؟

اوولي وشو؟ زه ترسحره هيڅ په
دي پوه نه شوم بياسحرمهال دبي بي
سي اوخپلوملکي نشراتونه راته
داسي ځرګنده شوه چي
دثورپرانقلاب ! يوبل سورانقلاب
سورشو . دايقيناً چي زماغوندي
حساسو خلکو لپاره دفکريوه لمحه
وه . ماسوچ کولو چي داڅه وشول ؟
ددي انجام به څه وي ؟
اوآيادافغانستان په سيمه دابل
شوي اوربواځي ددغي سيمي په
برخه دي اوکه نه ددي دخوريدو
اوزياتيدوخطرات هم موجوددي ؟
بيامي پخپله پخپل ذهن کي
داخبره يقيني کړه چي ددي خطرات
زمونږ دانداژي نه هم څه ډيرزيات
دي اوهغه شکاره ده چي يوازي
دافغانستان دنجيب ملت اودهغه
ملک دخاوري پوري محدود نشي
پاتي کيداي ځکه نومادغه نظم
چي تاسوورته اشاره وکړه دخپل
پاکستاني اولس اوقوم دخبرداري
لپاره وليکو .

ددي نه څه موده پس چي نړي
ددي استبداد دپيښنونه خبره شوه
اودي سيمي ته بي نظرشو
نوددنيادهري سيمي نه اخباريان ،
خبريالان اوداطلاعاتو جمع کوونکي
دپخواپه شان رامات شول . . دغه
جوپي جوپي خبريالان به پيښورته
راتلل په دي چي ډيرغلګرو دزياتي
ترمخه دهجرت کوونکو قافلي
دافغانستان له سيمي نه پاکستان
ته رارواني وي اوهرچاخپله خپله
کيسه دخپل ځان سره خوندي کړي
ده سيمي ته راوړه داقيصي تشي
قيصي نه وي دادرد انګيزه پيښي
وي داسي درد انګيزه پيښي چي
هډودچاباورپري نشوکيداي . په دي
کي دقتل اوغارتګري دلوټماردستم
اواستبداد متمامتم واقعات په
خلکو تيرشوي وو ، لوږي، تندي او
بي سروساماني بي ليدلي دي
اوداتولي قيصي څه داسي وي چي
دغوخبريالانويي اوريدل هم غوښتل
اودنوري دنيا دخبرولو لپاره يي
نشرکولي هم .

دخبريالانو په داسي يوه دله
کي يوه ميرمن چي دنيويارک
ټايمزنومي اخبارلپاره يي داسي
معلومات جمع کول په
دغوورځوکي پيښورته راغله .
دازما ديوه دوست پروفيسر تامس
ايدوردز چي څه زمانه پخوا ورسره
ما اين آربر کي په مشيګن
يونيورسټي کي يوځاي کارکړي و
دخاندان وه . کله چي هغه
پاکستان ته راتله
نودپروفيسرايدوردزسره يي
دنيويارک نه په ټيلفون رابطه قايمه
کړه اوهغه ورته وويل چي کله ته
پيښنورته لاړه شي نودپروفيسرنواز
طائرسره هم په پيښنوريونيورسټي
کي ووينه دغي ميرمن درارسيدونه
يوه ورځ پس ماته ټيلفون وکړو
اوزماسره دليدو خواهش يي
ځرګندکړو ماهغي ته پښتو اکيډيمي
ته دراتلو بلنه ورکړه هغه چي کله
زمادفترته راغله نوماته معلومه
شوه چي هغه دنيويارک ټايمز خبرياله
ده . هغي زمانه دافغانستان په
حقله ځيني تپوسونه کول غوښتل .
مااول خوهغي ته داوويل چي زه
دداسي مرکونه ځان ساتم ، ولي
هرکله چي داپيښنه يوه داسي
پيښنه ده چي ددي نتيجي به هرحال
ډيري دوررس اوعميقي دي په دي
وجه ماته په دي کي هيڅ تأمل
نشته چي ستادتپوسونو چي
هرڅومره زمانه کيداي شي مناسب
جوابونه درکړم ولي شرط به پکي
داوي چي داجوابونه به زماپه حواله
نه شائع کوي بلکي دابه په داسي
رنګ کي اشاعت له ورکوي چي
تاپخپله ددي سيمي دخلکو رايه
معلومه کړه اودهغي نه دي دغه څه
استنباط کړل دهغي ديوسوال په
جواب کي مي هغي ته داوويل چي

پروفيسرنوازطائر

تاته به دامعلومه وي چي په افغانستان کي دسرمايه داراوکمونستي گوند جگړه نه ده روانه بلکي دغلته يوه نظريه دبلي نظري سره په جنگ ده يوه نظريه چي زه ورته اشاره کوم اسلام دي اوبله نظريه کمونيزم دي، هرکله چي نظريه دنظريي سره جنگيږي نوسکاره خبره ده چي مضبوطه ، صالحه اوپخه نظريه به په کمزوري اوغيرصالحي نظريي باندي بري بيامومي .

زما داپوره يقين دي چي داسلام طرفدارمجاهدين چي هغوي اسلامي بيرغ پورته کړي دي دوي به په تش لاس هم دخپل دين په بدل کي به داخوارزارولي په آزادي مين خلك تاسوله څه درکړي ؟ افغانستان دآسيازړه دي پرزړه ويښته نه وي ولاړ دالکه دهگي صفاوي خوهله چي وازگي پري نه وي، په کوم زړه چي وازگي نه وي هغه خوندناك هم وي اومتحرك هم ، دآسيا دازړه دغه دواړه خاصيتونه لري او دلته زموږ شاعرداوايي چي

ډك دميني زړه راکړه چي زړه درکړم
ته چي څه دارانکړي زه به څه درکړم

زمونږسره دميني اواخلاص دجذبي نه نورهيڅ هم نشته نوکه تاسو افغانستان ته دخپل عادت مطابق په کاروباري نيت رانشي نوهم به گټه وکړي اوهم به مينه اواخلاص دفکري اونظرياتي انقلاب سره سره دجاپاني استعماردخوريدو آثارليدلي شو .

دافغانستان سياست کار اوعام اولس ددي هرڅه په منځ کي په داسي حيثيت ژوندي و چي ددي تولونه يي ځان هم ساتلواودي تولوته يي ددوستي اومرستي دعوت هم ورکولو ولي استعمار اواستبداد دچاددوستي پامته دارنه وي بيا نوددي لپاره ويښ اوبيدار اوسيدل ضروري شي ځکه نوپه دغه زمانه هم که په دي سيمه کي کوم اولس دآزادي بيرغ په معنو کي اوچت ساتلي دي هغه همدغه افغانان وو. هرکله چي دوي په سياسي ميدان

> مادخپل فکرپه آيينه کي خپل زړه له داتسلي ورکوله چي دافغانستان په سيمه پيښ دانا تاردافغاني اولس دژوند پيغام دي ، اودايقيني خبره ده چي په دغه سيمه چي ددي ناتارترمخه خومره وينه توييږي داوينه به رنگ راوړي ، دابه دغه سيمه شيرازه کوي هم اوآبادوي هم . زه په دي وجه په نثراوشعر دواړوکي دليك په دوران کي نه خوناميده يم اونه مي په بل چاداپيرزوکيږي

اوايمان په جذبه په دشمن باندي بري بياموميځ، په دي چي دالله تعالي ددين لپاره چي چاهم په اخلاص قرباني ورکړي دي هغوي تول سرخروشوي دي بيا پښتون خوهميشه ددي ميدان غازي پاتي شوي دي ، هغه تل ددي عقيدي ملگري دي چي مرگ مي دي دشهادت وي اوژوندمي دي دغازي وي اوخوك چي دغه نظريه لري هغه دانساني نظريونه په هيڅ جورهم ويره نه کوي دهغي دبل سوال په جواب کي ماهغي ته وويل چي که چيري تاسي دويتنام دجنگ بدل اخستل غواړي نواوس يي موقع ده په دي شرط تاسوداغرض په موتي کي ونه نيسي چي آخرددي ومومي .

دهغي ديوبل سوال په جواب کي هغي ته ماوويل ددي سيمي سياست داسي نه دي چي ستاسو سياستکارپه آسانه پري پوه شي، داهغه سيمه ده چي دزمانوراسي دانقلابونو اوسياسي هلوځلو مرکز پاتي شوي دي ، بياپه تيره تيره په نولسمه اوشلمه صدي کي خوورته خصوصي اهميت حاصل وو په دي چي يوپلوبرتانوي سامراج راخورشوي واوپه دي سيمه پوري يي ددي مرلي بل پلودزار روس پيشقدمي دآمودرياب ترغاړو رارسيدلي وي اودجنوبي آسيادنيمي وچي په دروازه يي لاسونه ايښي وو . بل پلوپه ځکه کي ددومره لويوطاقتونو کي سره لوبيدلي د ي او اوس پري دقطب له لوري روسي يرغلگرو چپاوکړي دي نوددي سياست په نفسياتوکه څوك پوه دي نوهغه دويم استعماري قوت دي چي دلته يي ډيره موده ددي سيمي په سياست کي گوتي وهلي دي اودغه استعماري قوت که څه هم په هغه حيثيت کي نه دي پاتي ولي پوهه اوتجربه ددي متقاضي ده چي له هغوي نه په دي لړکي تپوس اوشي ځکه زمادايقين دي چي چا دزمروسره پنجي وهلي دي هغوي دزمرو دخوي بوي نه ناخبره نه وي اوکه زمري يي ډيرهم په سترگوبدلگي، ولي په دي به يي هيځکله پيروزنشي چي هغه دي

دګيدړانوښکارشي په اخرکي هغي
له مانه تپوس وکړو چي ددي جنګ
په انجام ستاڅه خيال دي ؟ ماورته
وويل چي ژوندي نظريه به ژوندي
پاتي کيږي ځکه نوکومه نظريه چي
دپښتون دايمان خبره هغه به بالاخره
بريالي کيږي . دادافغان اولس
مقدردي اواوس چي زه دتيرو
يوولسو کالو واقعاتوته نظر اچوم
نوزمازړه دفخر اوويارترمخه
غورځنګ اوکړي چي ماچي څه
فکرکوو افغان ولس دهغي نه هم
څه زيات بريالي اوکامياب شو
اوددغي کاميابي په نتيجه کي نه
يوازي داچي ددوي په همت
اومړانې. ټولي دنيا آفرين ووي
بلکي تردي دمخه دختيزيورپ
ډيروقومونو دغلامي دجغ نه څټونه
وايستل اوخپل جمهوري حقونه يي
ترلاسه کړل .

لاسرباري پري داچي دکشميرمظلوم
اومحکوم مسلمان اولس هم په دي
پوه شوچي دآزادي حاصلولو لپاره
دقومونو سره ايکي يوه لاروي
اوهغه په ځان اعتماد اوپه الله
تعالي تکيه کول دي . کله چي
خوداعتمادي پيداشي نوبيا هيڅوک
دچالاره نشي نيولي . آزادي
ديوانسان پيدايشي حق دي ځکه
چي دي غلام نه پيداکيږي ، ولي
چي خوداعتماد ي پکي نه وي
نوغلامي يي مقدرشي . افغان
مجاهدملت دخپل تاريخ په
هردورکي په خپله خوداعتمادي
اودالله پاک جل جلاله په ذات
تکيه کولو ژوندي اوبريالي پاتي
شوي دي .

څوپوري چي زمادفکري ودي
اونشونماسوال دي ددي مختصر
جواب خوداکيداي شي چي
شعروهبي شي دي، ولي موضوعات
خوښول دانسان دجذباتو
اواحساساتوسره تعلق لري، بياددي
لپاره مشاهده اومطالعه هم پکاريږي
چي دادذهن په ارتقاکي لاس کوي
نثراونظم دواړه ددي ترمخه
ښکلاموسي . يو وخت ماته مقامي
محلي اوداخلي فکرونه زيات
رامخکي و، ولي تيرو څوکلونو
زمادفکردنياڅه بل رنګ کړه .
مادخپل فکرپه آيينه کي خپل زړه
له تل ١٥ نسلي ورکوله چي
دافغانستان په سيمه پيښ
داناتاردافغاني اولس دژوند پيغام
دي اوداپقيني خبره ده چي په دغه
سيمه چي ددي ناتارترمخه څومره
وينه توييږي داوينه به رنګ راوړي
دابه دغه سيمه ښيرازه کوي هم
اوآباد وي هم ، زه په دي وجه په
نثراوشعردواړوکي دليک په دوران
کي نه خوبخپله ناامیده يم اونه
مي په بل چا داپيروزکيږي .

داډيره دخوشحالي خبره ده چي په
تيرو لس دولس کالوکي پښتوژبي
ته دافغاني جهاد ترمخه يوژوندي
ادب په لاس ورغي اودغه ادب به
دسبانسلونو رهنمائي کوي .

ادب په هرحال کي ادب وي نه
خوتش په نامه ددي مقام اوحيثيت
څوک بدلولي شي اونه ددي دودمخه
نيول کيداي شي .
ترقي پسندي دچادکورجاګيرنه دي ، هغه
چاچي دخپل اظهارلپاره کومه رويه خپله
کړي ده اوپه کوم نوم يي ياده کړي ده ،
هغه دهغوي دذات سره محدوده ده
اسلام دانسان دترقي لپاره هرچاته لاري
سمي کړي دي دااوس دتنګ نظروخلکو
تنګ نظري دي چي هغوي ځانونه په
کوموخاصو چارديواروکي بندکړي دي
اومخالفينوته يي داموقع ورکړي ده چي
هغوي ددي په مقابله کي خپل ځان ته
ترقي پسندوايي .

افغاني جهاد دترقي پسندي دغه
بوت هم اخرمات کړ او داسلامي ادب
وررود لاري يي هم سمي کړي . اوس
دوخت تقاضا هم داده چي کوم ګام مخ په
وړاندي پورته کړاي شوي دي ، بايد چي
دغه ګام نه خو ودرنيږي اونه په شاشي،
بلکي دوړاندي تګ دغه عمل لاتوند شي
چي همدغه دژوندون اوحرکت نښه ده .

داسلام په اداڼه کي لکه چي تاسوته
معلومه ده ، دين اوسياست څه جدا
څيزونه نه دي. دغسي اسلامي ادب هم
ددين اوسياست نه بيلداي نه شي .
دانسان فکرونه ياخودجبراواستبداد خلاف
داحتجاج غرونه راپورته کوي
اويادجمالياتي مظهرونو تعريف اوتوصيف
کوي . اودغه شيان دژوند ښکلا اوحسن
ښواکوي . انسان دخپل ورك شوي جنت
په لټون کي دپخواراسي سرګردانه دي،
هغه ددغه ورك شوي جنت په تصورکي
دخپل چاپيريال نه ځان ته ديوجنت جوړول
غواړي . دادادب اصل مقصداومرام دي
. نوهرکله چي زموږدين اوزموږسياست
هم ددي خبرو متقاضي دي، نوددي ترمخه
ماته په خپل ادب، خپل دين اوخپل
سياست کي هيڅ توپير په نظرنه راځي .
دابيغه خبره ده چي موږپه خپلو تکلونو کي
دخپل ورك شوي جنت په ځاي ځان له
ددوزخونو تنورونه جوړوو .

پاتي شوي داسلامي ادب عمده
خطوط اوکرښي، نوپه دي باب کي زه
داويلي شم چي : داسلامي ادب اصل
عنصر دشرك نه ځان ساتل اودمعاشري
ژوند داسي تشکيلول دي چي زړونه
دمحبت ، احسان او ورورولي له پيغام نه
ډك کړي . اودغه جذبه دټول انسانيت په
خيراوښيګڼه راولي .

ديوي نظريې ماته .

اوداسي يي مات کړ چي دادنيا
آباده وي، بيابه سرراجګ نه کړاي
شي . اودکمونيزم په خير دروسي
ټولواکمنيءِ څه حال شو هغه خوټولو
ته لکه دنيمايي ورځي دلمرځرګنددي
." دعيان څه بيان "

عبدالمالك رحماني

دمنځنۍ آسیا دخپلواکۍ په لارکې ستونزې

او

داسلامي هیوادومسؤولیت

په روسیه کي دتیري میاشتي د کودتا ناکامي ، نه یوازي داچي په نړیوال سیاست کي ستر بدلون راوست ، بلکه پخپله روسیه یي هم دحیرانوونکو اونه اټکل کیدونکو تغیراتوسره مخامخ کړه ، داسي تغیيرات چي په دومره نږدي موده کي یي خیال اوتصورهم له چاسره نه و که څه هم چي په روسیه کي دګورباچوف په واکمنیدوسره دګلاسناست اوپروسترویکا دپالیسي و په اساس دتدریجي بدلونونوآثارراښکاره شول، له کمونیزم څخه دځان ایستلو اوداآزادبازار اقتصادي نظام خپلولو کاراونقشه په پام کي نیول شوي اودولس دغاړي رسي څه ناڅه سسته شوي وه ، خوهغه څه چي وروسته راڅرګندشول واقعاً چي حیرانوونکي دي .

په هرصورت دکودتا ترناکامي راوروسته چي هرڅه پیسېږي، یاورځ بله وروسته نوي نوي رادبره کیږي ، دادروسيي داخلي خبري دي خویوه خبره چي د ټولو خپلواکوهیوادوپه ځانګړي توګه داسلامي نړي پام یي ځانته رااړولي و ترډیره حده ورپوري اړوند ده هغه دروسيي له لویي امپراطوري نه داسلامي جمهوریتونو دخپلواکي مسئله ده چي همدااوس پرنوروسربیره اسلامي جمهوریتونو، آذربایجان ، ازبکستان ، قرغزستان ، تاجکستان ، ترکمنستان اوقزاقستان دآزادي اعلان کړیدي ، دځینو اټکلونو له مخي دروسيي تراسارت لاندي جمهوریتونو کي اوس تقریبا ۷۰ ملیونه مسلمانان ژوندکوي چي په یوه ډیره پراخه سیمه کي خواره شوي دي ، که ددغواسلامي جمهوریتونو خاوره سره یوځاي کړي شي نوتقریبا دري ملیونه کیلومتره مربع کیږي اوکیداي شي دغه اسلامي جمهوریتونه دیوه داسي کنفدراسیون په حیث راڅرګندشي چي له افغانستان ، ایران، ترکیي، روسيي اوچین سره به سرحدونه لري اوددومره پراخه اولوي هیواد په حیث به ددنیا په نقشه کي ځاي ونیسي چي هیڅوك به یي هم دتسخیرولو توان نلري په ځانګړي توګه چي دروسيي تقریبا ۲۰ فیصده اتومي وسلي اوپایګاوي هم په اسلامي جمهوریت قزاقستان کي ځاي پرځاي شویدي ، له بلي خوابه دغه لوي کنفدراسیون دخپلو غني ذخیرو اوپراختیاله امله دیته ضرورت پیدانکړي چي پرنورو تیري اوتعرض وکړي اویادچالپاره دسرخوږباعث شي .

دمنځني آسیاداسلامي جمهوریتونوددغسي احتمالي کنفدراسیون په رادبره کیدواوپوره خپلواکي ته په رسیدوسره لویدیزوال اوپه ځانګړي توګه امریکا له سختي ویري سره مخ کړیده اوترخپلي وسي زیارباسي چي ددي جمهوریتونو دخپلواکي مخه ونیسي په همدي اساس اوس دغه پوښتنه راولاړه شوي چي آیا روسیه به دي ته حاضره شي لکه څنګه چي یي دبالتیك هیوادونو خپلواکي په رسمیت وپیژندله ددي هیوادوخپلواکي هم ومني او تراټومي مهماتو او بټیوپوري ټول هغه ذخائیرورته پریږدي چي فعلا ددي جمهوریتونوپه واك کي دي ؟ که دقیق غوروکړو نوداسي

څرګنديږي چي تزاري روسانو دغه سيمي له اوله هم دهغو منابعوپه نظرکي نيولو سره قبضه کړي وي چي همدااوس ورسره دي ، روسي تزارانو له اوله نه غوښتل چي ددوي په ګاونډ کي دي داسي قوي اسلامي حکومتونه اواتحاديه جوړه شي چي بيادوي دپرمختګ مخه ونيسي نوکه کيداي شي همدااوس هم ترپردي لاندي داسي عملونه وکړي چي ددې جمهوريتونو پوره خپلواکيدل وځنډوي . په دې لړکي چي کومه خبره دپادولو وړده هغه دامريکا اولويديزي نړۍ دعکس العمل خبره ده ، چي همدااوس يي

دروس دواړه درجه اول مشران ګورباچوف اويلتسن دقوماندي منلوته تيارسي ولاړدي ، او دانکاره ده چي امريکا نه غواړي چي دافغانستان ، ايران ، ترکيي او پاکستان په ګاونډکي شپږنورداسي اسلامي جمهوريتونه رازرغون شي چي دمعدني موادوغني ذخيري لري، تقريباً ټول اوسيدونکي يي باسواده اودعصري وسلو له استعمال سره بلد، ان چي داتومي انرژي ذخيري اووسلي هم ورسره وي . امريکا فکرکوي چي په سيمه کي دانقلابي مسلمانانو په مرسته او هاند داسلامي افغانستان ، ايران ، پاکستان ترکيي او منځني آسيا يوه لويه اتحاديه ياګډي هڅي کيداي شي ديوبل زبرځواک په حيث راڅرګندشي، دامريکادخپلسري په وړاندي خنډشي . نوپه همدي اساس لکه څنګه چي امريکا په افغانستان کي داسلامي حکومت دمخنيوي لپاره هڅي کوي نجيب په پښنودروي ، روسي واکمني هم ديته هڅوي چي بايد د منځني آسيا اسلامي هيوادونه پخپله ولکه کي وساتي اوپري نيږدي چي دخپلولسونو دخوښي مطابق خپل تګلوري پخپله وټاکي .

دامريکا دغه فشار همدااوس هم څه ناڅه ځرګ ښکاري چي دبوريس يلتسن له خوادجمهوريتونو ترمنځ دنويوسرحداتو دټاکلو غوښتنه ده، امريکا هڅه کوي چي دسرحدي لانجوپه ژوندي کولو سره له روسيي نه خپلواك شوي اوياخپلواکيدونکي جمهوريتو نه پخپل منځ کي په داسي ناروغي اخته کړي چي مجبوراً روسيي په کمزوري اودامريکا ترلاس لاندي اتحادکي پاتي شي .

دروسي جمهوريتونو په وړاندي دامريکا دغه دوه مخي اومنافقانه پاليسي دهيچاڅخه پټه نه ده ، له يوي خواپه خپل ټول توان دبالتيك هيوادونه په پښنودروي اودآزادي لپاره يي روس ګواښه تر څو په دې وتوانيده چي دغه دري هيوادونه خپلواك اودملګرومللتوغړيتوب ترلاسه کړي ، خوله بله پلوه داسلامي جمهوريتونو په وړاندي نه يوازي چپ پاتي دي بلکي دخپلواکي په لارکي يي خنډونه اچوي، روسان ديته تشويقوي چي اسلامي جمهوريتونه په خپله ولکه کي وساتي .

دوهمه پوښتنه چي دمنځني آسيا دهيوادودخپلواکي په وړاندي په ذهن کي پيداکيږي هغه ددې جمهوريتونو داخلي ستونزي په ځانګړي توګه دنفوس جوړښت او دهغوروسي اونورواقليتونو موجوديت دي چي دتزاري اوکمونستي استعماري پاليسو د " روسي کولو دسياست " په اساس په دغه جمهوريتونو کي ترايرولاندي اورحيثيت لري که څه هم چي په دغو جمهوريتونو کي سميي داخلي خلکو او مسلمانانو اکثريت زيات دي ولي بيا هم په ځينو ځايونو کي دغه اقليتونه په ځانګړي توګه روسي لړکي دځايي خلکواودمسلمانانو لپاره لانجي راپيداکولاي اودخپلواکي په لارکي يي خنډونه اچولي شي .

کيداي شي په لومړي سرکي هغوي هم دخپلواکي ملاترکړي ولي په طويل المدت کي داستعماري واکمنودشومو اهدافو دعملي کولو لپاره دښي الي کاروکوي اونشنلستي مفکوري په تزريقولو سره دداخلي جګړي اورته لمن وهلي شي . ددې لپاره چي دامسئله روښانه شوي وي په اسلامي جمهوريتونو کي دمختلفو قومونو فيصدي ترنظرتيروو :

دوروستيو احصائيو له مخي په اسلامي جمهوريتونو کي دمختلفو مليتونو فيصدي په لاندي ډول ده

۱- آذربائيجان مرکزيي باکو مساحت يي ۸۶،۸۰۰ کيلومتره مربع او اوه مليونه نفوس لري، چي ۶۶ فيصده آذري ، ۱۴ فيصده روسي، ۱۲ فيصده ارمنيايي او ۲.۷ فيصده ګورجستاني پکي ژوندکوي او ۸. فيصده يي مسلمانان دي .

۲- قزاقستان : دقزاقستان مرکزالماتا اومساحت يي ۴۰۰، ۷۱۷، ۲ کيلومتر مربع دي، ۱۶ مليونه نفوس لري چي تقريباً نيمايي يي مسلمانان دي. په قزاقستان کي ۵۱ فيصده روسان اويوکرانيان ، ۱۹ فيصده مختلف قومونه اويوازي ۳. فيصده اصلي قزاق ژوندکوي .

۳- ترکمنستان : مرکزيي عشق آباد ، مساحت يي ۴۸۸،۱۰۰ کيلومترمربع اونفوس يي څلور مليونو ته رسيږي چي ۶۰ فيصده

ترکمن، ۱۷ فیصده روسي ، ۳ر۸ فیصده ازبك اوپاتي نورقومونه پکي میشته دي، ددي جمهوریت هم تقریبًا اتیا فیصده مسلمانان دي .
٤ – ازبکستان : دازبکستان مرکزتاشکند، مساحت یې ۰ . ٤۰، ٤٤۷ کیلومترمربع اوتقریبًا ۲۰ ملیونه نفوس لري چي ٦۲ فیصد یې ازبك ، ۵، ۱۳ فیصده روسي، ۸ . ۱۱ فیصده دمنځني آسیا نورقومونه او ۵ . ۵ فیصده تاتار ژوند کوي، دمسلمانانو فیصدي یې تر ۸۵ فیصده پوري رسیږي .
۵ – تاجکستان ، مرکزیې دوشنبه ، مساحت یې ۰ . ۱۰، ۱٤۳کیلومترمربع، نفوس یې پنځه ملیونه دي چي ۵۳ فیصده تاجك، ۲۳ فیصده ازبك او ۷ . ۱٤ فیصده روسي اوکرایني پکي اوسیږي .
٦ – قرغزستان : مرکزیې فرونزي ، مساحت . . ۱۹۸۵ کیلومترمربع، نفوس یې څلورنیم ملیونو ته رسیږي چي ٤۰ فیصده قرغزیان ، ٦ . ۱۰ فیصده ازبك اوپاتي ٦ . ۳٦ فیصده روسي اوکرایني پکي اوسیږي، دمسلمانانو فیصدي یې ٦۰ فیصده ته رسیږي
دغه جمهوریتونه که له یوي خوا دروسانو داستعماري سیاست له مخي دصنعت په ډګرکي ډیر پرمختللي نه دي اوزیاتره په مرکزي روسیه متکي دي له بلي خوابني معدني ذخیري لري چي دټولي روسیي ترنیمایي زیات اومه مواد تهیه کوي .
داهم باید ووایوچي که څه هم په پورتنیو شپږو جمهوریتونو سربیره چي مسلمانان پکي اکثریت جوړوي دروسیي په نورو جمهوریتونو کي هم مسلمانان ژوندکوي چي هغه هم دنورو قومونو له خوا ترسخت فشار لاندي دي . خواکثره مسلمانان یې له خپلو دیني اومذهبي ارزښتونو بیګانه اوپردي شوي اوهسي په نامه مسلمانان دي .
دپورتني احصائیي څخه چي دوه کاله مخکي اخستل شوي، معلومیږي چي دتزاري اوکمونستي استعماري سیاستونوپه ځانګړي توګه دروسي کولو دسیاست په اساس په منځني آسیا کي داسي جنجالونه راپیداکړي چي دآزادي په لارکي یې سختي ستونزي راولاړولای شي چي له خپلواکي نه وروسته په داسي سرحدي جنجالو وکړي، نه یوازي خپله یې په رسمیت وپیژني بلکي په روسیه باندي فشارراولي لکه څنګه چي یې دبالتیك جمهوریتونه په رسمیت وپیژندل ، دغو جمهوریتونو ته هم خپلواکي ورکړي ، اوهغه مسلمانان چي په نورو جمهوریتونو کي په اقلیت کي ژوندکوي ددي اجازه پیداکړي چي خپلو پخوانیو اوپلرنیو تاټوبوته لاړشي .
ترټولومهمه فرهنګي اوددیني تعلیماتو ستونزه ده ، مسلمانان باید پدي برخه کي دخپل ورورستي توان په اندازه مرسته وکړي دیني، علمي اوفرهنګي هیئتونه ولیږي

> **دمرکزي آسیااسلامي جمهوریتوپه اړه دامریکا منافقانه پالیسي له هیچانه پټه نه ده.**

اخته کیږي چي کله په هم ځان تري ونشي ایستلای .
خواوس ددي لپاره چي ددي جمهوریتونو دخپلواکي ستونزي په آساني سره حل شي، نوله یوي خوا پخپله ددي جمهوریتونو مشرانو او اوسیدونکو ته پکاردي چي له ډیراحتیاط اوعقل نه کارواخلي، یاداچي په فعلي ټاکل شووسرحدونو راضي اودتائید مهرکیږدي اویا داچي دخبرواترو اویا دریفراندم په ذریعه دغه ستونزه په آرامي سره حل کړي، پرینږدي چي دروسي استعمار چیانو اوامریکادشومواهدافو قرباني شي، فکرکیږي چي امریکابه ددي سیمي دنارامي لپاره ډیرپلانونه پکاراچوي ترڅو دغه جمهوریتونه له مرکزي حلقي څخه دپوره خپلواکي جوګه نشي، ولي اسلامي نړي ته په کاردي چي ددي خلکو دخپلواکي په لارکي په سیاسي اواقتصادي ډګرکي لاس اومرسته ددیني مدرسو اوجوماتونو په ترمیم اوتاسیس کي اقتصادي کمك ونه سمپوي ، عربي نړي اوګاونډي هیوادونه ترټولوزیات مسئولیت لري .
که اسلامي نړي په دي برخه کي خپل اسلامي اوانساني مسئولیت اداکړي، نوهیله ده چي ژرترژره به دمنځني آسیا هیوادونه پخپلو پښوودریږي اوداسلامي نړي په کوربه ورګډشي . او په نتیجه کي به وکولای شي پراخه صنعتي اسلامي نړي دامریکاپرداختیادهځو په وړاندي ودریږي .
اسلامي هیوادوته پکارده چي داسلامي کنفرانس په راتلونکو غونډوکي چي په داکارکي جوړیږي دمنځني آسیا دهیوادوپه ستونزوهم بحثونه وکړي په خپلواکي یې دتائید مهرولګوي او دخپلواکي دتحقق په لارکي لازم قدمونه اوچت

پاتي په (۲٦) مخ

زموږ یوازنی ارمان په افغانستان کي دالهي نظام حاکمیت دی

تورن عبدالسلام

س :محترم تورن صاحب عبدالسلام :
هیله ده د جهاد پر وضعه اوپه ځانګړي توګه دننګرهار دجهاد پروضعه رڼاواچوی:
ح : الحمدلله دجهاد وضع دننګرهار په ولایت کي پوره پوره ده‌اړوړده . دننګرهار ولایت چي د لویو او لومړي درجه ولایتونه څخه یوولایت دي دجلال آباد ښار نه پرته کاملاً آزاد اودمجاهدینو تر تسلط لاندي دي.

په ټولو ولسوالیو - علاقداریو او لویو ولسوالیوکي دمجاهدینو حکومت چلیږي په دي ولایت کي داوتنظیمونو مجاهدین په اتحا داواتفاق سره خپل جهادي فعالیتونه پرمخ بیایي اویوه مقتدره باصلاحیته شوري لري چي دننګرهار ولایت جهادي شوري په نامه یادیږي او ټول دجهاد پوري اړوند ه چاري اداره اورهبري کوي .

الحمدالله په ننګرهار ولایت کي دمجاهدینو ترمینځ هیڅ ډول اختلاف اونزاع نه لیدل کیږي همدا وجه ده چي وخت پر وخت يي دښمن ته مرګوني ګوزارونه ورکړي دي.

ملحد رژیم په ټول قوت اوطاقت سره ونه شو کړي چي د تورخم - جلال آباد لارخلاصه کړي ددي لاري دخلاصون لپاره يي چه فوق العاده سیاسي اهمیت لري څوځو واري په مجاهدینو بریدونه وکړل ، شعارونه به يي ورکول چي " یامرګ اویا تورخم "

ګلم جمان اوجوزجاني ملیشا داوطلب راغلل دمجاهدینو پرمرکزونويي بمباري وکړه آن تردي اومقاومت په برکت يي ونشو کړي چي یوه لویشت هم پرمخ ولاړشي .

کله چي دننګرهار ولایت په مرکز جلال آباد باندي دمجاهدینو بریدونه پیل شول نه یواځي ملحد رژیم بلکي روسان اوامریکا ئیان هم په سخته ویره کي شول .سم دلاسه

تورن عبدالسلام له محبوب الله "محمدیار" سره دمرکي په حال کي.

يي په راډیوګانو - خبري اژانسونو او رسانو کي دننګرهار ولایت دننګیالو اومیړنیو مجاهدینو پرخلاف ، درواغجن تبلیغات پیل کړل ترڅو نریوالوته وښایي چي مجاهدین نه په سیاست پوهیږي چي په سرحدي قبائیلو کي يي اسلام دښمنه عناصرلکه فردوس خان اونورملګري يي درشوت په ورکولو سره دمجاهدینو پرخلاف راوپارول ولي دخداي (ج) په فضل اودمجاهدینو داتحاد

اونه دحکومت کولو استعداد لري ، اونه هم اتحا داواتفاق لري . که مجاهدین په سیاست نه پوهیدلي نوخرنگه یي تول کفري جاهلانه سیاست اوبالخصوص کمونیستي سیاست ته جهاني شکست ورکړ.

لنډه داچي دننگرهارولایت جهادي وضع دقدروړ او ان شاءالله دمجاهد ملت لپاره دروښانه

وروسته ددښمن دقواو مورال څه ډول ځیري ؟

ح : تاسو ته به بهتره معلومه وي چي نن سبا په ټول افغانستان بالخصوص دننگرهار لغمان – لوگراوپکتیا په ولایت کي ددښمن پرقواؤ پرله پسي فیصله کن بیریدونه کیږي دلغمان په قهرمان ولایت کي مجاهدینو گڼ شمیر

استعمالیږي.

په همدا شان دپکتیاولایت دخوست دلوبي ولسوالي ترفتحي وروسته دنجیب په رژیم رناورځ توره شپه ده په گردیز چي ان شاءالله دفتحي په درشل کي دي سخته جگړه روانه ده او ددښمن نه لار ورکه ده چي کوم خواوتښتي .

تاسي ته به په یادوي چي نجیب چلنج ورکړي وه که خوست مجاهدینو ونیوه زه به کابل پریږدم . روس مونږ دروغجن اومکار نجیب ته وایوچي که ته کابل پري نږدي مجاهدین به یي درڅخه ان شاءالله دخپلومټو په زور ونیسي اوسربه دي هم خاوري شي.

هره ورځ په دغو ولایتونو کي په سلهاؤعسکر اوملیشا اوپهلس ها و صاحبمنصبان اوقوماندانان دخپلو وسلو اومربوطه قطعاتو او جزوتامونو سره مجاهدینو ته تسلمیږي ، دملحد رژیم معنویات اومورال نه یواځي په دغوولایتو نو



دننگرهار ولایتي امیرتورن عبدالسلام

بلکي په ټول افغانستان کي ختم شوي حتي په جرأت سره ویلي شم چي دروسي بادار مورال یي هم فوق العاده کمزوري دي ځکه خوبي دامریکا لمن ته داعتذارلاسونه اچولي ترڅوددغه ناورین دخلاصون لاربیاموميي ولي بي خبره له دي چه وايي ما تیغ برهنه ایم دردست قضا شدکشته هرآنکه خویشتن برمازد

مستقبل زیري دي.

س : په ځانگړي توگه په پکتیا ولایت ، لوگرولایت ، لغمان ولایت اوننگرهار ولایت ددښمن پرمرکزونوزیاتیدونکي فشار رمټ نیولي اوبیرته په دښمن

پوستي اونظامي تاسیسات دډیرو غنیمتونو سره ددښمن نه ترلاسه کړي درني وسلي لکه ټانکونه – توپونه دستگاوي اونوري روغ

س :دافغان قضیي دسیاسي اواري لپاره دملگروملتو پنځه فقره یي طرحه څه ډول ارزیابي کوي ؟

ځ : زمونږ موقف دافغانستان دقضیي دحل په رابطه دلرپه شان

که څوك له کمونستانو سره گډ حکومت جوړکړي زمونږ دیونیم ملیون شهید انو خون به یي اخستی وي.

دننګرهارولایت په ټولو ولسوالیو اوعلاقه داریوکي دمجاهدینو حکومت چلیږي

روښان دي مونږ دمسألي حل دتوري له خولي غواړو ، دسیاست اوخبرو له لیاري امکان نه لري ځکه چي زمونږ په ګران هیواد نظامي یرغل شوي دیونیم ملیون مؤمنو مجاهدنو څخه مواضافه شهیدان شوي . دپنځه ملیونو نه مواضافه پاکستان اوایران ته مهاجر شوي . دملت ګڼ شمیرافراد مومعیوب شوي دګل پشان افغانستان څخه اوس دوینو بوي پورته کیږي او وران ویجاړدي.

همدا اوس اوس بمباري رواني دي - سکادمیزایل ویشتل کیږي دمهاجرینو بهیرراروان دي. اوس نو په داسي حال کي سیاسي حل څه معني لري بي له دي چي زبرځواکونو ته دغلامي اوبرده ګي سند ورکړي ،مجاهدین دسیاسي حل څخه کاملا بیزاره دي اودامنل شوي کلیه ده چي ځواب همیشه بالمثل وي. داخوکوم غربي بي عقیدي اوبي هدفه ملك اوملت نه دي چي سرنوشت به یي دملګروملتونو په لاس کي وي.

تاریخ شاهد دي چي داسي مسایل مونږ دخبرولو لیاري نه دي حل وفصل کړي . مونږدانګریزانو سره دتوري په ژبه خبري کړي دروسانو سره موپه توره بحث کړي توره ده چي لله الحمد مونږ ته یي نړیوال ویاړ راپه برخه کړي دتوري سره به ژوند کوو اوپه توره به مرو اوخه سه یي ویلي دي :

" لا په خوب کي په لړزه پریوځي له کته
چي دچاترغوږزمادتوري شرنګ دي

کومه پنځه فقره یي طرحه چي ملګروملتونو زمونږ دوطن دقضي دحل په باب وړاندي کړي زما له نظره داپنځه فقره یي خائنانه دسیسه اوتوطیه ده چي زمونږ دمجاهد ملت دارمان اونصب العین پرخلاف پکاراچول شوي . هغه څوك چي زمونږ دایمان اوعقیدي اوزمونږ دهیواد دښمنان و په هغه مونږ په رسمیت نه پیژنو څه لادا چي فیصله یي ومنو.

مونږ به هیڅا ته داحق ورنکړو چي زمونږ په مسایلوکي لاس وهنه وکړي ولوکه هغه هرڅوك وي

تول رښتني مجاهدین تولو غرضي پلوونو ته خبرداري ورکوي چي زمونږ په داخلي چارو کي لاس وهنه پریږدي اوکه نه نو داملت به سل کاله وروسته هم ستاسي دبدو پوښتنه وکړي چي بیابه یي دناګواره عواقبو ذمه واري ستاسي پرغاړه وي اوبس .

س :دروسیي دبهرنیو چارو وزیر بوریس پنکن دافغانستان دقضیي دسیاسي اواري لپاره داسي یوه طرحه وړاندي کړي چي :

الف : مجاهدینو یومشر دي دعبوري دوري لپاره ددولت ریاست پرغاړه واخلي او خالقیار دي صدراعظم وي؟

ځ : کومه طرحه چي دروس دبهرنیوچارو وزیر وړاندي کړي دافغانستان مجاهد ملت ته دقبول وړنده ملت چي بي ساري قرباني ورکړي دا دسوچه اسلامي نظام حاکمیت لپاره ، نه دمخلوط اومزدور حکومت درامینځته کیدو په منظور داچي مونږ مشکوك حکومت نه منو طبعا دجهاد هیڅ یومشربه یي دریاست لپاره غاړه کښینږدي که احیانا داسي مشر پیداشي هغه دجهاد مشر نه بلکه دخپل کورمشر اودخپل ځان نماینده به وي . که څیني تش په نامه مشران دي ته حاضر شي څه دتشویش خبره نه ده ځکه هغوي زمونږ په مجاهدملت کي مطرح نه دي اونه مجاهدین یدي حساب کوي

س : که چیري د مجاهدینو دارمان اونصب العین پرخلاف دجهاد کوم مشر دي ته حاضر شي چي له کمونیست رژیم سره ګډ حکومت جورکړي پدي صورت کي به دمجاهدینو عکس العمل څه وي ؟

ځ :دخالقیار په رابطه دومره ویلي شم چي هغه سرسخت کمونیست شخصیت دي اوتول مجاهدین یي پیژني داچي روسانو او دروسانو مزدورانو ورته دبیطرفي ماسك په مخ خپورکړي دایوه بله دسیسه اومکروفریب دي دملت له پاره :

به هررنګي که خواهي جامه مي پوش
من ازطرز خرامت مي شناسم

ظاهرشاه چي دخالقیار انو حامي اویو فاسق شخصیت دي اودعبوري مرحلي مسئولیت ورته پیش کش شوي په واقع کي دمرګ پیشکش ورته شوي داهم مجاهدینو ته دیو زوړګناه ګار اومجرم حیثیت لري اودهیواد دټولوناخوالو اوستونزو عامل یي ګڼي .

هغه وختونه لاړل چي ظاهر شاه غوندي ملي خاینانوبه پرافغانستان حکومت کاوه چي یوګروپ مجاهدین هم موجود وي ظاهرشاه به رانشي داطرحه بالکل مجاهدینوته مردوده اودشرم څخه دکه طرحه ده .

دمجاهدینو دارمان اونصب العین خلاف چي چا جیرته څه اقدام کړي .الله پاك هغه رسوا اوشرمولي.

دانګریزانو نه نیولي تر روسانو پوري چي دمجاهد ملت دارمان مخالفت یي کړي نتیجه یي هر چا ته دلمرپشان روښانه ده .

پاتي په (۳٦) مخ

بحث مختصري

پيرامون علم واقسام آن

عبدالرحمن "نثار"

خوانندگان گرامي درترتيب و تنظيم مضموني كه از نظرشما ميگذرد از آثار گرانمايه و جاويدان حضرت امام غزالي (رح) بنام (علم لدني) اقتباس صورت گرفته . اميد است كه مورد استفاده علم دوستان و علم طلبان عزيز قرارگيرد. پيش از اينكه نظر و ديدگاه اما م غزالي (رح) را درمورد علم و اقسام آن بيان نمايم مقدمه كوتاهي را مايلم ذكر كنيم تا براي آنچه كه بعدا مطرح ميشود ذهنيت مساعدي ا يجاد شود . از انيكه مقاله ذيل حوصله يك مقدمه مفصل را ندارد ناگزيريم كه بطور اجمال و فشرده مطلب را بيان نمايم .از طرف ديگر مطمينم كسانيكه مضامين و مقالا ت علمي و تحقيقاتي را مورد مطالعه قرار ميدهند قطعا حضور ذهن و دقت كافي دارند بنابرين نيا ز به توضيح زياد نيست .

از طرف ديگر نسل جوان امروزي وارثان كاوشها و كوششهاي حكما وعلما بزرگوار هستند بنابرين ازكلمات و واژه هاي چون فكر ، علم ، شناخت ، تفكر و همه مثال اينها يك نوع برداشتها ودريافت هاي خاصي دارند كه وقتي اين كلمات عنوان ميشو ند آن انديشه ها طبعابه ذهن ماراه مي يابند .

واژه علم درزبان عربي و فارسي داراي دو معناي متفاوت ميباشد

الف : معناي اصلي و اولي علم ، دانستن دربرابرندانستن است . از اين تعريف اجمالي علم موضوع ذيل استنباط ميشود .كه همه دانستنها صرف نظراز نوع آنها علم اند . و عالم كسي راميگويندكه جاهل نيست. بنابرين علم خداشناسي فقه ، مذهب ، اخلاق ، زيست شناسي ونجوم را ميتوان علم ناميد . و هركس كه يك يا چند رشته از آنها رابداند عالم شناخته ميشود . وقتيكه ميگوييم خداوندقديرمتعال عالم است آن به اين معنا عالم است كه نسبت به هيچ امري جاهل نيست وعلم يكي از صفات ذاتي خداوند است . و براي خداوند (ج) مساله مجهولي وجود ندارد .

همچنا ن محتواي قرانكريم به اين معنا علمي است . چونكه مجموعه ي از دانستني ها است و هركس آنها رابداند عالم به قرآنكريم است .. بنابرين همه علما و فقهاي اسلام عالم اند و هركس از خداوند (ج) و صفات و افعال او (ج) آگاهي داشته باشد عالم است . جوهر كلام اينكه علم دربرابرجهل قرار دارد .

بدين معناكه علم ضد جهل است جهل خوديكي از عوامل موثر ظلمت ميباشد و اين يك حقيقت انكار ناپذيراست كه ظلمت لازم سكون ميباشد و اين سكون كه ضد حركت است . توام بانيستي و عدم مواجه است درحاليكه علم مرادف باهستي،وجود و حركت است بنابرين اين يك واقعيت مبرم است كه هستي و وجود و حركت بهتر ووالاتر از عدم و نيستي ميباشد . چنانكه ارشاد ، هدايت، حق ، حركت ، فلاح ، سعادت ونور همه درهستي ووجود نهفته اند، بنابرين وجود و هستي والاتر و بهتر از عدم ونيستي است . پس علم هم بهتر وعالي تراز جهل ميبا شد .

چون جهل بسان تاريكي و جاهل بسان نا بينا وكور ميباشد هيچ وقت كور و بينا نور و تاريكي با يكديگر مساوي و برابر نيست .

خداوند قدير متعال درسوره الزمر آيه(٨) ميفرمايد : قل هل يستوي الذين يعلمون والذ ين لايعلمون : ترجمه : ((بگو اي رسول ص)) آيا برابر ((مساوي)) ميباشد آنانكه مي دانند و آنانكه نميدانند)) درجاي ديگر ميفرمايد : ترجمه : خداوند (ج) بلند ميسازد درجات آنان راكه ايمان آورده اند از شما و آنانكه عطا كرده شده است ايشان را علم) ((مجادله ١١)) از آيات مباركه چنين استنباط ميشود كه درجه علم و دانش درنزد خداوند (ج) بالاترين،شريف ترين مقام و درجه ميباشد . وقتي كه دانستيم كه علم بهتراز جهل است آن وقت دليل و دست اويز ديگري نيز براي استدلال منطقي ان بدست ميآوريم و آن اينكه جهل از لوازم جسم ميباشد و علم از صفات روح . واين يك واقعيت انكار ناپذير است كه روح شريف تر ، حسنه تر و بالا تر از جسم است .

ب: كلمه علم درمعناي دوم منحصرا بدانستني هايي اطلاق ميشود كه بر مبناي تجربه مستقيم حسي مبتني باشند . علم دراين معنادربرابر جهل قرار نمي گيرد بلكه دربرابردانستنها كه آزمون پذيرنيستند قرار مي گيرد . اين نظر يه از آغاز دوره رنسانس اروپا به بعد بوجود آمده و به اساس همين نظريه يك بعدي است كه امروزه

علم شرك بزرگ روز گار ماست و علم پرستي جانشين بت پرستي دوران هاي كهن شده است . به اساس اين نظريه و تعريف اخلاق ، عرفان فلسفه ، تجارب دروني و شخصي ، فقه ، اصول ، بلاغت ، احكام ، و ابزار هدايت فكري و ... همه دراين نظريه بيرون از دايره علم به معناي دوم آن قرار مي گيرد - به عبارت ديگر از نظر متقدمان اين نظريه غير علمي اند . درحاليكه علم پيونددهند . عمل و عقيده و شناخت خداوند درذهن و عقل است . نه تنها مربوط زمين است و نه خاص جهان آسماني و نه يك تئوري محض بلكه تمامي آنها را دربردارد. خلاصه اينكه علم دركليت خود وسيله ارتباط انسان با خداوند است .

بنابرين همه دانش ها از نظر ما دربر گيرنده تمام معارف است . از آن علوم ديني كه شامل فقه ، احكام شريعت و توحيداست مقدم بوده و علوم كلام چون : علم ، هيئست ، علوم طبيب ، شميي ، رياضيات ... خلاصه همه علوم شامل معارف بر گزيده اسلا م اند . بنابرين بايد هوشيار بودو آنچه را كه فروشندگان نظريه ((پوريتيك)) بنام علم ارايه ميدهند خريدار نباشيم و ناآگانه درذهن خود معادله علمي و وغير علمي را اذعان نكنيم و علم دربرابر جهل را معادل علم دربرابر تمام دانستنيهاي غيرتجربي نگيريم چون كه دايره درست و نادرست خيلي و سيعتر و گشاده تر از دايره اين نظريه است اين درست نيست كه بگوييم هر چه كه درزير دستگاه ميكروسكپ تجزيه شده لازوما درست و علمي است درغيرآن نادرست و غيرعلمي است .

دربالامتذكر شديم كه اين نظريه عمدتا از آغاز دورنساس به اين طرف متاع خودرا به بازار ارايه داد . درحاليكه علم به معناي مطلق و دربرابر جهل تولد ش با تولد بشريت هم آغاز است : امام غزالي (رح) درروابط به تعريف علم چنين ميگويد : علم عبارت ازتصوري است كه نفس ناطقه انساني ، نسبت بحقايق اشيايي مفرده ومجرد از مواد و اعيان خارجي و كيفيت و كميت و جواهر و اعراض آنها حاصل ميكند . همچنان درمورد عالم ميگويند : كه عالم كسي است كه به اشيا احاط حاصل كرده ، آنهارا درك و تصور مي نمايد و همچنان معلوم چيزي است كه تصور آن در نفس منقوش و منعكس ميگردد . امام غزالي درمورد ارزش علم و مقام عالم چنين اظها ر نظر ميكند : شرافت و ارزش علم بقدر ارزش وشرافت معلوم آن و مقام و مرتبه عالم بر حسب مقام و مرتب علم ميباشد . ودرين هيچ گونه شك وترديد نيست كه شريف ترين وو الاترين و ارجمند ترين معلومات بشري خداوند يگانه و آفريننده دانا و تواناست ، پس علم به خداوند (ج) كه عبارت از

اطلبوا العلم و لوفي الصين) ترجمه : علم را حتي اگر در چين باشد بطلبيد : ((روايت از ابن ماجه)) از مضمون اين ارشادات گرانمايه حضرت رسول اكرم (ص) چنين استنباط ميشود. كه تحصيل علم توحيد برهرفرد مسلمان فرض بوده و حتي براي تحصيل آ ن امر به مسافرت فرموده اند كه ميفرمايد : دانش را جستجو و طلب كنيد هر چند اگر در كشور چنين باشد .

پس دانشمندان اين علم نيزفاصل ترين و والاترين دانشمندان ميباشد . به همين سبب است كه خداوند درورديف ،مرتبه بالاتر، نام آنان را ذكر فرموده . آنجا كه مي فرمايد : ترجمه گواهي داد خداوند (ج) آنكه نسيت هيچ معبود وگواهي دادند فرشتگان و دانشمندان كه جز او و خداي نيست : آل عمران ١٨) و يا اينكه ميفرمايد :

خداوند (ج) بلند ميسازد درجات ايمانداران راز شماو از كساني را كه به ايشان دانش (علم) روزي گردانيده است: مجادله ١١ درسوره فا طر آيه (٢٨) ميفرمايد : انما نحيشي الله من عباده العلموا : ترجمه: جز اين نيست

> **جهل خوديكي ازعوامل ظلمت مي باشد واين يك حقيقت انكارناپذيراست كه ظلمت لازمه سكون مي باشد**

علم توحيد و خدا شناسي است . بر ترين ، شريف ترين و عالي ترين علوم ميباشد و تحصيل اين علم نيز ضروري و برتمام عقلا و خرد مندان فرض است . چنانكه صاحب شريت حضرت رسول اكرم (ص) فرموده است ((طلب العلم فريضة علي كل مسلم)) ترجمه : طلب علم برهر مسلما ن فرض است و يا اينكه ميفرمايد:

كه مي ترسند از خداوند (ج) ((ستايش خدارا بجا مي آورند)) عالما ن از بندگان او : همچنان حضرت رسول اكرم درمورد علما ء ميفرمايد : ترجمه : وجود دانشمندان درجامعه ،چون وجود ستارگان درآسمان است . كه راهاي تاريك،دريا و زمين را روشن مي سارند ، وچنانچه ستارگان خاموش شوند ، رهر وان بيدار ، راه راگم

خواهندكرد(روايت از احمد ازانس بن مامللك) وعلما ر ا وارث پيامبران خطاب ميكنند : .
العلما ورثه الا نبيا ء :
بنابرين علما توحيد بطور. اطلاق پيامبران و پس از آنان دانشمندان هستند كه وارث پيامبران ميباشد .
اما اينكه يك عالم چگونه مي تواند ميراث پيامبران را منتقل كند بنحوي كه به معناي واقعي وارث پيامبران محسوب شود ؟ خود نيازمند يك بحث مفصل ميباشد كه ازحوصله اين مقاله خارجي است .

، همانگونه كه بيشترعلوم عقلي درنزد دانشمندان آن علوم شرعي هستند .
قسم اول يعني علم شرعي ، خود بر دوگونه است : يكي اصول وديگري فروع . علم اصول يا علم توحيد عبارت است از توجه و معرفت خداوند و صفات قديمه وفعيله و ذاتيه او(ج) كه بنام هاي گوناگون، بيان شده است و همچنين نظر و مطالعه دراحوال پيامبران ، بعد ، احوال اصحاب وتوجه به مرگ وحيات و روز

مورد عنايت و الطاف او (ج) قرار گرفته اند .
اين كار اخلاص و هد فمندي برادران را درامرتعليم و تربيه نشان مي دهد . اگر چه معاش كم دارند ، ولي حزب كارهاي خودرادرتعليم و تربيه روي يك نظم معين استوار ساخته لهذا بقاي مدارس را تضمين كرده است ، روي پول و ماديات استوار نكرده تادرحالت مضيقه مدارس از هم نپاشد چنانچه اين مشكل را درسطح احزاب ديگر مشاهده مي كنيم كه درتنگ دستي درمدارس را بروي طلاب بسته اند . حزب تظاهر نميكند هر كار خود را با ساس توانمندي و نيروي ذاتي خود انجام مي دهد. زيرا نزد حزب هدف و ارمان محترم است و ماديات محترم نيست امروزتمام افراد حزب روي هدف اسلام كار مي كنند. باكم حزب مي سازند و به بسياو غير چشم ندوخته اند .

- برادرهاي جوان مادرسنگرهاي داغ سينه سپر كرده مي رزمند و قرباني مي دهند، پس ما بايد درسنگر تعليم و تربيت شدايد را تحمل كنيم، كمبودي ها را متقبل شويم و آنرا جهاد حساب كنيم -واقعا جهاد همين است ، جهاد اساسي آن جهادى است كه نخست درسنگرتعليم و تربيت ساخته شويم . رشد كنيم ونموپابيم تا درسنگر جهاد عملي از خود مقا ومت نشان دهيم و از پا نيفتيم ،اگر درينجا ساخته نشديم ،قدم هاي لرزان بر داشتيم- درسنگر سقوط خواهيم كرد - امروزمشكلاتي درجبهات بمشاهده مي رسد همه آن ناشي از نارسائي و جهل است ، اگر ما يك اجتماع تربيت يافته و مهذب مي داشتيم افغانستان را زود فتح كرده بوديم و حكومت اسلامي را در آن قائم ساخته بوديم - زيرا محل اقامه حكومت موجود مي بود، موانعيكه سر راه ما وجوددارند از جهل ونا داني مادركارها ست .

شما فكر نكنيدكه كار افغانستان با آزادي و ساختن حكومت اسلامي درآن خاتمه مي پذ يرد بلكه كار آن از نو آغازمي يابد ، جهت بقا و حفظ ان و دين مبين اسلام ما به مجاهدين تربيت يافت ضرورت داريم . زيرا جهاد تا قيامت ادامه دارد . خداوند روح شهدا ما را شاد داشته باشد كه با خون خود درخت انقلاب را آبياري كردند و مجاهدين ما را خداوند نيرو واستقامت بخشد كه ١٣ سال كامل با يك ابرقدرت جنايت كار رزميدند و بلاخره انراشكست دادند و از خاك بيرون را ند ند . جمهوريت هاي اسلامي كه در قبضه روس بودند خواهان ازادي اند . واضح

است که این شهامت و مردانگي را از ملت بخون آغشته افغانستان آموختند .
این جاي بس افتخاراست تاریخ ملت ما صفحات مشحون از کار نامه هاي رزمي ، اخلاقي، ایثار و فدا کاری دارد. امروز همه دنیا افغانستان را شناخته اند ، جهاد و مجاهد را، مي شناسند مجاهدین افغانستان تاریخ ١٤ قرن خاموش مانده جهاد را زنده و تازه ساختند این ندا جز ازملت افغان ازهیچ ملتي بر نخاست
امروزمردم روسیه برکمونزم نفرین و لعنت مي فرستند مجسمه لنین رابخاك مي اندازند ، همین جاست که گورباچف درپالیسي و مکتب کمونزم دگرکوني میاورد و بسوي

شهید تقدیم کردیم وشش ملیون آواره ومهاجر دادیم دهها هزار معلول در راه خدا دادیم وبخون خود درخت انقلاب را آب یاري وبه ثمر رسانیدیم ، ولي دشمن مي خواهد بدست خود حاصل قرباني خویش را نگیریم .
چرا دشمن توطیه وموامره ایجاد مي کند ؟ زیرا اومیداند که اگر حکومت اسلامي بسازیم افغانستان با سائر دول اسلامي هم پیمان شده و آنوقت ما نیرومند مي شویم ودشمن ما ضعیف میگردد . زیرا او از تاریخ اسلام وهمبستگي مسلمین چیزهاي بخاطردارد.
استعمار با چهره هاي مختلف دردو ران ١٣ سال جهاد مصروف چیدن توطیه علیه انقلابي ماست ، گاه با

فقره یي ملل متحد از طرف احزاب جهاد ي مخصوصا حزب اسلامي افغانستان ردشد ، چندي قبل و زیر خارجه ایران به پاکستان امد با نائب وزیرخارجه پاکستان احمد زکي و سران مجاهدین ملاقات داشتند اگر چه ایران از طرح ملل متحد پشتیباني میکرد .
ولي احزاب آنرا با دلایل اقناع کننده یي نه پذیرفته و رد کردند و اضرار آنرا برخ وزیرخارجه ایران کشید ند . و گفتند که اگر قضیه افغانستان مطابق آن طرح حل گردد هم به ضرر ایران است و هم به ضرر پاکستا ن ومجاهدین افغانستان. بدانید:که قضیه افغانستان یکراه حل دارد و آن راه جهاد است .

فکرنکنیم که کارماباساختن حکومت اسلامي انجام می یابدبلکه کارما ازنوآغازمي شود

غرب میگراید و با و امتیاز قایل مي گردد، شما زبوني روس را در برابر امریکا در قضیه خلیج مشاهده نمودید - امروز روس همه چیز را در همه جا از دست داده حتي حیثیت و آبروي کاذب خود را هم از دست داده است .
باید شما از عان کنید که این همه نابساماني روس از برکت جهاد ملت افغان است.
شاگردان عزیز ! جهاد ما امروز درمرحله حساس قرار گرفته است وقتي آن رسیدۀ است که از ثمر انقلاب کام خود راشیرین کنیم ، ولي استعمارگران نمي خواهند که ثمره انقلاب را بدست خود بچینیم . ما ١٣ سال جهاد کردیم ، خون دادیم - بهترین دوستان و جوانان خود را قرباني دادیم ویك ونیم ملیون

تظاهر به صلح و آشتي ، گاه بادادن جایزه صلح به گرباچوف و گاهي هم ازدریچه ملل متحد سر بر مي آورد و طرح پنج ماده ئي را پیشنهادنماید که گویاملت مجاهد اکنون باین مسایل تن دردهند .
مجاهدین دیالوك بین الا فغاني را بپذ یرند ، حکومت اسلامي در افغانستان قدرت را بدست گیردکه درآن کمونست ها وغرب گراها بامجاهدین سهیم باشند . ملت خلع سلاح گردد و آتش بس رعایت گردد. شما فکر کنیدکه تن دادن باین طرح و عملي شدن این طرح بمعني تسلیم شدن بدشمن و بذلت گرایدن نیست ؟ ملل متحد ١٣ سال پیش کجا بود؟ چرا از حقوق انساني ملت افغان دفاع نکرد ؟ وجوکي ملل متحد را به ملت مجاهد نداد؟ ولي این طرح پنج

حزب اسلامي افغانستان باین راه تاکید میکند و دیگر طرق را دسیسه مي خواند - یگانه چیزیکه آرزوي ماراباورده میسازد زور و بازوي توانائي ماست که حکومت را درکابل قایم نمائیم و حکومت ملحد نجیب مزدوژ را سقوط دهیم .آنوقت است که ما بهدف اصلي جهاد خود مي رسیم .
این موقف ثابت حزب است اگر چند یك درمذاکرات سیاسي شرکت میکند ما، در هر اجلاسي با جرات موقف خود را اعلام داشته و به روز نامه ها نشر نموده است. حزب مي گوید درست است که ما وحدت میخواهیم ولي وحدت باین معني که ما کرسي ها را بین احزاب تقسیم کنیم وزارت خانه ها را بر اي افراد تعین نمائیم وحدت واقعي نیست، وحد ت واقعي زماني آمده مي تواند که سائر احزاب با حزب درعملیات کابل اشتراك کنند و سهم بگیرند ، وقتیکه کابل سقوط

بقیه درصفحه (٥٦)

سیدجمال الدین افغان (رح)

دتاریخ په لوړو ژوروکې

ژباړن: محمد نوروز

په دي گڼه کي دنولسمي پيړي يوستراسلامي شخصيت ، نابغه اوفيلسفوف هغه سيدجمال الدين افغاني درپيژنو چي خپل ټول عمريې داسلام دترقي، دمسلمانانو داتحاداو يووالي په لارکي اودهرډول ښکيلاك ، څپښاك اوتيري اوظلم دله منځه وړلو په لارکي تيرکړي اوسره له دي چي په دي برخه کي يي زياتي ستونزي اوربړونه گاللي، خپل هدف ته درسيدو لپاره يي له پوره صبر، حوصلي، ثبات اومقاومت څخه کاراخيستي اوپه پاي کي يي په همدي لارکي خپل ځان قرباني کړي دي .

په نولسمه پيړي کي پرله پسي کړکيچونو په ټول افغانستان باندي توره وريځ خوره کړي وه . له څلوروخواوڅخه بهرنيودولتونو ددغه هيواد دنيولوهيله درلوده، له يوې خوا دتزاري حکومت ، قاجاري پاچا چي ترخپل نفوذ لاندي يي وه ، دهرات نيولوته وهڅاوه او له بلي خوا هندته دشاه شجاع تلل ،اودانگليس له خوا دهغه ملاتړ ، زموږهيواد داستعمار له خطرسره مخامخ کړي و ، دسدوزايي دوري پښتواني والي رنجيت سنگه ، چي د مهاراجگي دعوي يي کوله ، پيښور نيولي و ، دبخارا امير دافغانستان له کورني گډوډي څخه ناوړه گټه واخيسته ، له شمال څخه يي دجنوب په لور داموترسيند پوري دخپل قدرت ددايري پراخوالي غوښت . دهندوستان دملاتړ اوساتني په باب دانگليس سياست، اودهند تودواوبوته درسيدو لپاره دتزار دحکومت پښوانيو هيلو دمنځني ختيځ هيوادونه دسترقوت دسياست آله گرځولي وه .

په هرات باندي د محمد شاه قاچار بريد دانگليسانو داندیښني اوپريشانۍ سبب شو ، ځکه هغه يي دتزار لمسون اوتحريکول وبالل دهند حکومت الکسندر برنس د اميردوست محمد دربار ته په سفارت وليږه ،چي هغه متفق کړي ،اوامير دپيښور اونورو هغوافغاني سيمو بيرته ورکول چي رنجيت سنگه دهند په لمسون له افغانستان څخه جلا کړي وي ، ددوستي لومړي شرط وباله .

په دي وخت کي تزاري دولت يوهيئات کابل ته وليږه ، اودې کار انگليسان له شاه شجاع څخه (چي ځان يي دافغانستان قانوني پاچا گاڼه) دکاراخيستني په فکر کي واچول . په ۱۸۳۸ کال کي دانگليس ،شاه شجاع اورنجيت سنگهه ترمنځ دري اړخيزه تړون وشو ، شاه شجاع دکندهار په لور لښکر روان کړ ، اوتاکل شوي وه چي له شهزاده تيمور سره دسکانو پوځ دپښور له لارې کابل ته لاړشي په دي وخت کي قاجار پاچا دهرات له يوي کلني اوبي نتيجي کلابندي څخه لاس واخيست په دي ډول يي له افغانستان څخه دهرات دجلا کولو په باب دتزاري دولت پلان شنډکړ.

په ۱۸۳۹ کي شاه شجاع له انگليسانو سره ددوستي تړون وکړ اوپه زياتو تشريفاتو سره پرتخت کښيناست مکناتن دده لوي سلاکارشو.داوو دنولسمي پيړي په نيمايي کي دافغانستان سياسي حالات .

سيدجمال الدين افغان

سيدجمال الدين په دغه شان حالاتو کي د کونړ دساداتو په يوه مخوره (سيدصفدر) کورنۍ کي پيداشو ،اولا اته کلن نه ؤ چي دکونړ دساداتو له يوې بلې قبيلي

سره دښمنیو اورقابتونو اوددوست محمد خان دحکومت اقداماتو دهغه دکورني ژوند ګډوډ کړ .

سیدصفدر یي کابل ته بوتللو ، اودهغه وخت دکابل په یوه نامتو ځاي ګذرګداي کي یي میشته کړ. سیدصفدرچي بي له تسلیمی نه بله چاره نه درلوده ،خپل ټول پام یي دخپل زوي سید جمال الدین روزني ته واړاوه ، سید صفدر له څه مودي وروسته هیواد پریښود او همدان ته یي هجرت وکړ.

سیدجمال الدین په خداي ورکړي ذکاوت سره په زده کړه اوتعلیم بوخت شو اوترشل کلني پوري یي دپخوانۍ فلسفي دعلومو په ګډون رواجي علوم زده کړل . دسید ژوند څه په کونړ،څه په کابل او څه په نوروځایونوکي دانقلاب اوګډوډي ، اودپردیو دلاس وهني په لانجو اوکړکیچو کي تیرشو ، دافغانستان کورنیوپیښو او کورنیو جګړو چي پخپله یي لیدلي وې اوله پلاره یي اوریدلي وې دده پر وجدان اوضمیر باندي ژوره اغیزه کړي وه . دسید لوړ فکر یوازي دمدرسي په کونج اوګوښه کي پرکیناستو صبراوقناعت ونکړ ، مګر له کونړ څخه ترکابل پوري یي ټول جریانونه اوعلتونه وڅېړل .

سید له تاریخ سره خاصه مینه درلوده ، دهیواد تیرشوي حالات اودهغه دلوړتیا دوره یي په غور سره وڅیړله .اوهغه عصرونه اووختونه یي له خپلي دوري سره انډول کړل. په ۱۲۷۲ هجري ۱۸۵۶ م یي هند ته سفر وکړ اوپه هغه هیواد کي یي له یوه کال نه زیات وخت تیر کړ ، له نویو علومو سره بلد اواشنا شو او له زیاتو عصري علومو سره یي خپل تحصیلات پراخ کړل.

په همدي وخت کي چي سیددهند دنیمي وچي په څېړ لو اومقایسي اوپه هغه هیواد کي دانګلیس دنفوذ په کتلو بوخت ؤ په ۱۸۵۶ کي دهند وانو دپاڅون پیښه رامنځ ته شوه اودغه پاڅون چي په حقیقت کي دبرتانیي پرضد دهندوانوپاڅون و یونیم کال یي دوام وکړ اودبنګال دساحلي ایالت دعامه وژني سبب شو . دانګلیس پوځ په زیاتو ستونزو سره وکولي شول چي دغه پاڅون ارام کړي.

دغه پاڅون دوه نتیجي ورکړي : یوه یي له انګلستان سره دهند یوځاي کول ، اوبله " دختیځ هند کمپني ، منحله او له منځه لري شوه.دانګلیس دولت هندوستان په رسمي توګه پخپل هیواد پوري وتاړه اوپه ۱۸۷۶ م ملکه ویکتوریا دهند دامپراتوري عنوان غوره کړ دهند په دولتي تشکیلاتو کي دهند دوزارت په نامه یو وزارت جوړشو ، او دهند حکمران ته د" نائب السلطنه " (وایسراي) لقب ورکړ شو.

سید دا ټول جریانونه په دقت سره وڅیړل ، دهند وانو اومسلمانانو ددښمني علت یي ولټاوه . په اصل فارمول باندي چي "بیل یي کړه ایل یي کړه "پوه شو سید له ځانه پوښتنه وکړه چي ولي یوکوچني لري پروت هیواد داوقیانوس اطلس له شمال ختیځ لوري څخه په زرونو میله لار وهلي ، دهند پر پراخه سیمه .اوهغه هم پرزیات شمیر وګړوباندي زور ورشوي . ددې ځواب یي په دوو کلمو کي پیدا کړي و: د ختیځوالو بي اتفاقي اوبي علمي اوعلاج یي : اتحاداوپوهه.

سید د ۱۲۷۳ هه ۱۸۵۷ م کال په وروستیو کي دبیت الله شریف او مدیني منوري زیارت ته لاړ ، اومکه معظمه یي د اسلام داتحاد دتبلیغ لپاره ډیرښه مناسب ځاي وباله .« امالقري » په نامه یي یوه ټولنه جوړه کړه ،چي له هغه ځاي نه به دمسلمانانو په سیموکي په چټکي سره ددعوت اڅونه اواغیزې خپري شي .همدغه د« ام القري » جمعیت ؤ چي وروسته یي جریده خپره کړه ،خو ځرنګه چي خپروني یي دپاچا عبدالحمید له سیاست سره برابرې نه وې دهغه له خوا وځنډول شوه .

سید له هغه وروسته ، شام ،بیت المقدس ،عراق اوایران ته په سفر لاړ ، چي له نردي څخه داسلامي ټولنوپه احوال پوه شي ،دغه سیاحت چي پنځه کاله وخت یي ونیو ، دده تجربه لازیاته کړه ، له اسلامي هیوادو او هغوسیاسي لوبو په باب یي چي په هغوسیموکي داروپایي دولتونو له خوا پري کیدي پوره معلومات ترلاسه کړل.

سید اواميردوست محمد خان :

سیدپه ۱۸۶۱ م (۱۲۷۷ هه) کي افغانستان ته راستون شو اوپه کونړ کي خپل دټاټوبي اوکلي ته لاړاوهلته یوه مخورسید فقیر باچا ته دده علم اوشخصیت معلوم شو اوهغه یي په جلال آباد کي امیردوست محمد خان ته معرفي کړ.

سید ددربار دصاحبانو په صف کي داخل شو او دشهزادګانو دښوونکي او مربي په توګه وټاکل شو.

په همدي کال کي له امیر سره هرات ته لاړ . امیر په هغه جګړه کي چي دده او دده وراره سردار سلطان احمد خان ترمنځ وشوه بریالي شو. له فراه څخه ترهراته

پوري ددي جګړي په ټولو پړاونو کي سید له امیر سره و اوده ته یي مشوره ورکوله .

هرات بیا دکابل له مرکز سره ارتباط پیدا کړ ، خو پخپله امیر چي دشاهي کورنۍ دلړۍ لومړۍ سړۍ ؤ وفات شواوپه ۱۲۷۹ هجري (۱۸۶۲ ء م کي امیر شیرعلي خان چي دده زوي ؤ دده په سپارښتنه امیرشو.

سیداوامیرشیرعلي خان :

امیر شیرعلي خان دهرات له نظم اوترتیب څخه وروسته خپل زوي محمد یعقوب هلته پریښود او پخپله کابل ته روان شو.دامیر دوست محمد خان نورو زامنو هریو یي په هریوه لوري په حکومت باندي تاکل شوي ولکه محمد امین خان په کندهارکي اومحمدافضل خان په بلخ کي دباچا هي دعوی کوله .

دامیرشیرعلي خان دواکمني لومړۍ دري کلونه له خپلو ورونو سره په جګړه کي تیرشول .محمد اعظم خان دده له لاسه هندته وتښتیده اودهند برتانوي حکومت دده ملاتړ وکړ اومحمد افضل‌خان له امیر شیرعلي خان سره په جګړه کي ماتي وخوړه . سردارانو امیرسره دمحمد افضل خان دپخلا کیدو لاري برابري کړي ،خو شیرعلي خان پرمحمد افضل خان بدګومانه وواوهغه یي له ځان سره بندي کړاودهغه زوي عبدالرحمن خان بخاراته وتښتیده . سید په دغه دوره کي له امیرشیرعلي خان سره و، - هڅه یي کوله چي له ده سره دحالاتو په ارامولو کي مرسته وکړي ، سید امیروهڅاوه چي دهرایت دجګړي عمومي عفوه اعلان کړي سید دامیر شیرعلي خان په لومړیودریومیاتشوکي دده په دربارکي و.ده داصلاحاتو لپاره یولایحه جوړه کړه او امیر ته یي وړاندي کړه چي په هغي کي دهیواد له سیاسي خپلواکي څخه نیولي ،دیوي جریدي ترخپریدو ، دیوي پوسته خاني اودنوي ښار دودانولو اوعسکري اصلاحاتو پوري پکي شامل و ،خودهغه وخت درباریانو له ده سره کینه راواخیسته اوهغه یي دامیرشیرعلي خان په فکر کي بدګومانه وښود. په تیره بیا دامیر شیرعلیخان وزیرمحمد رفیق چي سیدي خپل سیال ګاڼه سید ټول حالات دځان مخالف لیدل اوپه دې لټه کي شو چي خپل‌سرروغ رمټ وباسي هماغه ؤ چي دحج لپاره یي اجازه وغوښته اوبهر ته لاړ ،خودي پوهیده چي دامیر اودهغه د ورونو ترمنځ به کورنۍ جګړه او ګډوډي دوام وکړي . له دې امله له لري څخه یي دهیواد د پیښو اوحالاتو ځارنه کوله .

په دې وخت کي دکندهار والي سردار محمد امین چي دامیر ورور ؤ ،بغاوت اوسرکشي وکړه او امیرکندهارته لښکرورولیږه . په هغه جګړه کي چي په کجباز‌کي وشوه محمد امین خان اودامیرزوي سردار محمدعلیخان دواړه ووژل شول.

اوامیر په کندهار کي دهغوي فاتحي ته کښیناست.

په دي وخت کي سردارعبدالرحمن له بخارا څخه افغانستان ته راغي ،بلخ اوکابل یي ونیول او دوردګو په سیدآباد کي یي شیرعلیخان ته ماتي ورکړه اوخپل پلار محمدافضل خان یي چي په غزني کي بندي و راخلاص کړاو په کابل کي یي امیرکړ (۱۲۸۳)هـ

دمحمد افضل خان دامارت اوباچاهي دوره یونیم کال وه . له ده وروسته وروریي محمد اعظم خان امیرشو.

سید چي له تهران څخه دحالاتو څارنه کوله ، دمشهد او بتوس له لاري هرات ته راغي .امیرشرعلي لا ترد ي وخته په هرات مسلط ؤ، سید بیا له ده سره وکتل اوځلویښت ورځي هلته پاتي شو ، دده هدف داؤ چي داسي کار وشي چي دورونو ترمنځ روغه اوجوړه وشي اوهیواد له دغه کړکیچن حالت څخه وژغورل شي ، سید له هرات نه کندهار ته راغئ اوپوره اته میاشتي هلته پاتي شو (د ۱۸۶۶ ددسمبرڅخه تر ۱۸۶۷ او شکارپور بازار جیتن هندو- په سراي کي یي استوګنه کوله او دهغه سیمي له علما و اولویانو سره یي لیدنې کتنې کولې.

سید په هرات کي دتم کیدو پروخت کي دخپل ژوند سوانح ولیکله چي دغزالي په شان دلویانواووالیانو له ژوند سره یي ډیر نژدي والي درلود . دي وایي چي ، خپل وخت اوکالونه یي متداوله علوموته وقف کړل .

دنولس کلنۍ په وخت کي عالمانو ته کښیناست اوپوه شو چي هره ډله عالمان دخپلو خاصو عقیدو پیرودي ، ده پوره پنځه کاله دنړي بیلو سیموته سفر وکړ اووګرځیده ، او دهر مذهب اودین له مشرانو سره یي خبري وکړي .دي پخپله وایي : «ومي لیدل چي دغه نړي غیرحقیقي ده او له یوه سراي څخه پرته بل څه نه دي ،قدرت یي دوام نه لري ، - او کړاونه یي زیات اوبي انتها، - دهر ي خوښي ترشاخفګان اودهري ګټي ترشا زیان پټ دي ، نومجبور شوم چي له دي جنجالونواوکړاونو څخه ځان خلاص کړم ، اوخپلي اړیکي ورسره وشلوم

".. دلوي خداي په لطف اودهغه دمقربوبندګانو په مهرباني زه ددغو سيورو له نړي څخه . وژغورل شوم اود سرسپارني اوپاکي عالم ته مي چي دنور پر ګهواره تکيه لري ، لار وموندله ،نن ورځ مي وتاکله چي له حضرت سيدالمرسلين (ص) اودده له يارانو سره يوځاي شم"

د سيد دعرفان اودسياسي فعاليتونو روحيه په فوق العاده توګه لوړه شوي وه .

سيد د ۱۸۶۷ داپريل په ۷ په کندهارکي دعرفان په باره کي يوه دوولس پاڼيزه کتابچه پخپل قلم وليکله.

دسيد نظر اواميرمحمداعظم خان .

له هغي نه وروسته يوځه وخت په غزني کي پاتي شو اوکله چي داميرمحمد افضل فعاليت اوروزګار سرته ورسيد لکه چي وموويل سيدله محمد اعظم خان سره کابل ته لاړ او په تخت باندې دامير محمد اعظم خان دکيناستو په مراسمو کي په کابل کي و. څرنګه چي سيد داميردوست محمدخان دزامنو په منځ کي له محمد اعظم خان سره خاصه مينه اوعلاقه درلوده ، هغه يي ښه تصادف وباله ،په دي لټه کي شوچي امير دهيواد اصلاحاتو ته مجبور کړي.

سيد دمحمد اعظم خان دحکومت په لنډوخت کي په ټولو چارو کي دهغه سلاکاراومشاور و ، په کابل کي دهند دانګليسي حکومت مخبران ، دسيد په مفکرې باندې پوهيدل ، خپل مرکز ته به يي اطلاعات اومعلومات ورکول . دکدي دڅيړنو په ارتباط په ۱۸۶۸ مارچ کي دهند دحکومت يوه مخبر داسي اطلاع اوخبر ورکړ.

حاجي سيد ،اميرته قناعت ورکړ چي دانګليس حکومت چي دخيبر دلارې دخلاصولو هيله من شوي ، بل مطلب اومقصد لري. چي هغه ترکستان ته دهند دسوداګر« پراخوالي دي اودليل يي ښودلي چي ديوه هيواد دفتحه کيدو لپاره ډيرښه سياست دادي چي دسوداګري له مخي نوي مواصلات او لارې ولټول شي.

ده ويلي دي چي دهند اولويديزو هيوادوترمنځ سوداګري له پخوا وختو راهيسي دري لارې درلودي... اوس لازمه نه ده چي بله لار خلاصه شي ... » همداچي تزاري دولت رادمخه شوي دارال دسمندر دشاوخوا دقرغنز ورشوګاني يي دخيوي دترلاسه کولو په مقصد ونيولي ، انګليس پوه شو چي دتزار دولت به پرهند بريد وکړي او برنز ، ستودارت اوکنولي په شان يي خپل پټ مخبران افغانستان اوبخارا ته وليږل........ »

خوااميرمحمد اعظم خان ،خود رايه اوظالم سړي و اودهيواد لوي ،لوي کارونه يي خپلو هغو خپلوانوته ورکړۍچي عمريي لږ. اوتجربه يي کمه وه او له دي امله يي دهيواد سلامتيا اوارامي ته بل زيان متوجه کړ ،که څه هم سيد په بالاحصارکي اميرته نږدي اومقرب ؤاودهغه سلاکاري ته ورسيده . خودهيواد حالاتو سيدناآرامه کړۍ ؤ.

له بلي خوا دمدني اصلاحاتو په باب دده مفکورې اوپلانونه دنفوذ لرونکواودرباريانو دمخالفت سبب شول ، نو بيرته دتګ او وتلو اجازه يي وغوښتله ،اوامير دمکتوب په ترڅ کي په ډيري درناوي سره ده ته دسفراجازه ورکړه ،سيدله خپل هيواد نه بهرلاړ.

له افغانستان څخه بهرته دسيد دوتلو په وخت کي هغه په سياسي او اجتماعي ،ملي اوبين المللي مهمومسالوباندي مشغول و ، په هيواد کي ګډوډي اوکورنۍ جګړه اوداتحاد نشتوالي ،اقتصادي کمزورتيا ، جهالت اودپوهني اومعارف نشتوالي ،دحکومت داربابانو ظلم اوتيري ،دپرديو نفوذ او بريدونه له هيواد څخه بهر په هندکي دښکيلاك ، استعمار اواستثمار ورځ په ورځ نفوذ ، دهند وانو اومسلمانانو بي اتفاقي ، دمسلمانانو دخپلواکي زوال اود سيد دهيواد" منځني ختيځ هيوادوته داستعمار دپراخوالي خطر، دنورواسلامي هيوادو سقوط اوله منځه تلل اودهغو کمزور داسيائيانو پر سياسي اواقتصادي ژوند باندي داروپايي هيوادو ورځ په ورځ زياتيدونکي واکمني اوسلطه اودهغي لاديني مفکوري خپرول چي ددارون له فلسفي څخه يي سرچينه اخيستي وه .

ريښتيني اتلان..

توکړي بدن هريوغړي دجنګ په ميدان کي دهغه داتلواليودوياړ بهادري ګڼل کيږي .

پيغمبراکرم يي په باب فرمايي " ماجعفرپه جنت کي وليد چي دوه رنګين اوپه وينو لړلي وزرونه يي وو"

داديب ټولنيز...

خسته زدي . دامفکوره اونظريه له اسلام سره شته اوبس . که څوك تعميري نظريه خپلوي، نوخامخا به يي په لټون پسي دحقانيت اوتپاك ډيوي رڼاکوي

دمرکزي آسیا آسلامي جمهوریتونه ...

بیا همداجهاد دروسیې دمحکومو اسلامي ریاستونو له پاره دآزادي اوسباوون زیري وو . په افغانستان کي دپنځلس لکوشهیدانو په وینو تویو لو سره له یوي خوادروس لوي طاقت ټوټه ټوټه شو اوله بلي خواپه هغه اسلامي محکومو جمهوریتونو کي هم ساوچلیده اوتقریبا خپل هدف ته ورسیدل، هغوي ته دقرآنکریم نسخي ، نشرات اوبعضي نورشیان هم ورسیدل . اوپه دوي کي دآزادي جذبي بیا پیل شوي، داکار زیاتره دهغه پوځیانوله خواترسره شو چي روسانو دمحکومو اسلامي جمهوریتونو څخه په دي غرض مقررکړي وو چي هغوي دخپلو پلرونو اونیکونو دین هیرکړي اود کمونیزم په قالب کي ځانونه برابرکړي . داکترو نومونه اسلامي هم نه وو کوم وخت یي پلرونه اویا میندي په پټه په لمانځه لیدلي وي او یاخودومره پوهیدل چي ددوي نیکونونه اوپلرونه مسلمانان تیرشوي دي . اوپه دوي کي یوشمیر پوځیان پټ په پټه مسلمانان وو. کله چي نوموړي پوځیان افغانستان ته راغلل دمسلمانانو حالات ددوي مظلومیت، لمونځونه اوجهادي دایمان په رڼاکي مشاهده کړ . نو ددوي خوبولي ایمان هم په غورځنګو شو . ددوي همدردي له مجاهدینوسره یوځاي شوي روس ددي حالاتو په لیدو سره دوي بیرته خپل هیوادته وروغوښتل لیکن بیدارشوي ایمان چي دآزادي کوم روح په دوي کي پوکړي ودهغوي بیرته غوښتل ممکن نه و اوس عجیبه اوغریبه منظره دنړیوالوپرمخ کي پرته ده هغه داچي داسلامي محکومو جمهوریتونو دغلامي ځنځیرونه یودبل پسي واړه وارشلیږي .

دافغانستان دمجاهدینو دغه تاریخ جوړونکي کارنامه سنکاره اوټوله نړي یي حیرانه کړه ، داسلامي نړي په وړاندي یي دجهاددعمل، بصیرت اوځیرکتیا دروازه خلاصه کړه په دي وخت کي په ټول امت باندي دهغوي لړزوونکي اثرات پریوتل کوم چي په بحرکي دتوپان دراتلونه دمخه سنکاره کیږي دافغانستان دجهاد اودخلیج دجنګ په دوران کي روس اوامریکا په خپلواصلي ځیرومخامخ شوي دي . آیا داسلامي نړي حکومتونه اوداسلامي سرمشریزي .

کنفرانس به اوس هم دیوسیل کوونکي اونندارچي په سترګه ګوري اوکه څنګه ؟

دوّ ته داله یاده اینسل پکارنه دي چي اوس تاریخ ددي لیدوته سترګي پرلاردي چي هغه به په دي ضروري حالت کي څه رول لوبوي . خصوصًا پاکستان، ایران او سعودي عربستان ته داسوال متوجه دي . تاریخ ددي وخت پیژندني، احتیاط ، ځیرکتیا ،دقت اوفیصلي امتحان اخلي . اوپه راتلونکوڅو ورځوکي به ددي نتایج رامنځته شي

ددااکتر نجیب مذهب :

دافغانستان داوسني ګوډاګي ظالم نجیب مذهب څه دي ؟ بهتره به داوي چي په دي بحث کي دهغه دخپل حقیقي وررور(صدیق الله راهي) مرکه چي دکراچي دجنګ په ورځپانه کي په ۱٤.۹ دمحرم الحرام دوهمه دسي شني ورځ چي د۱۹۸۸ عیسوي داګست د ۱٦ سره سمون خوري خپره شوي رانقل کړو دده له عکس سره یوځاي په لومړي مخ کي نشرشوي (پښوردجنګ نماینده)

دافغانستان دګوډاګي رژیم دجمهوررئیس وروروصدیق الله راهي وایي چي : نجیب یوظالم اووحشي انسان دي هغه به هروخت په ماګواښ کاوه اوحتي دمرګ اخطاربه یي هم راکاوه ، دي ظالم اووحشي خپل پلارهم وژلي دي ۳۵ کلن صدیق الله ددوشنبي په ورځ مطبوعاتي کنفرانس ته په خبروکي وویل : زماپلاردنجیب مخالف و هغه معمولي ناروغ و نجیب په روغتون کي بستراوپه دي بهانه یي هلته وو اژه .

زه چي کله لویدیز المان ته وتښتیدم هلته یي ماته نشه لرونکي داروراکړل کوم وخت چي له نشي نه رابیدارشوم نوګورم چي په ختیزالمان کي یم اوله هغه ځاي نه یي بیاکابل ته راوستلم . صدیق الله وایي مونږخلوررورونه اودوي خویندي وو په دي کي دري وررونه مي کمونستان زه اوخویندي مي کمونستان نه یودکوردخاونددي وینانه وروسته دهغوصاحبانوسترګي خلاصول پکاردي چي دروسانودوتلو وروسته دافغانستان مقدس جهادته داخلي اوکورني جګړي وایي .

اوسني وضعه :

اوسني وضعه داده چي :

(۱) دروسیې اسلامي محکومو ولسونوازبکستان ، تاجکستان ، قرغیزیه او آذربایجان . دخپلي آزادي اعلان کړي دي . اونور به

هم یویپه راتلونکي نژدې کې دخپلي آزادي اعلان وکړي .

۲ - دافغانستان جهادپه ښکاره توګه نورخپلي فیصله کني مرحلي ته رسیدلي دي تقریبا ۹۰ فیصده علاقه دکمونستانو دتسلط څخه آزاده کړاي شوي ده چي په دي کي زیاتره ښارونه اوځوولایتونه هم شامل دي . کوم لوی ښارونه چي پاتي دي هغه هم دمجاهدینو دمحاصري اوفتحي په درشل کي دي .

ګردیزدمجاهدینودمتحدوحملولاندي دي په کابل باندي هم دمجاهدینو حملي جریان لري دکندهارښارپه مکمله توګه دمجاهدینو دمحاصري لاندي دي .

۳ - اوس دکابل حکومت ته مالي اونظامي مرستي ورکول روس ته لوي پیټي دي ځکه چي امریکا اوروس دواړوپه شریکه اعلان کړي دي چي د۱۹۹۲ کال دجنوري دلومړي نیټي نه به په دواړوخواووسلي بندي شي . باید په ډاګه ووایوچي امریکا خوپرمجاهدینوباندي خپل کومکونه له پخوانه بندکړي دي .

٤ - خودیادولو وړخبرداده چي اوس کابل ته هندوسلي لیږي داهغه په نوي طرزجوړشوي توپونه دي چي (ارګن) نومیږي . لیکونکي وایي دري هفتي دمخه دزیاترومجاهدینو ورونو سره دګردیزپه پخوانیو مرچلوباندي وګرځیدم او مونږته مجاهدینو ددي توپونوهغه ګولي وښودلي چي ٦ فټه اوږدي اوپنځه انچه غټي وي کومي چي دکابل دحکومت پوځیانو پرمجاهدینو استعمالولي ددي په هره ګولي کي څوڅو ګرنیټ وي چي داګولي پکي دټیم بمب غوندي ځاي پرځاي شوي وي اوپه تعین شوي وقفه کي یودبل پسي چوي .

۵ - دامریکا نړیوال بدنام نظام داویره لري چي هغه په دي سیمه کي داسلامي نظام درامنځته کیدو اومخنیوي دپاره له هندنه اسرائیل جوړکړي ترڅودهغوي په وسیله وکولاي شي په افغانستان کي داسلامي حکومت مخنیوي وکړي . چي ددي ثبوت یودبل پسي زمونږ مخ ته راځي په ښکاره توګه دکابل لویدلي حکومت ته دمجاهدینو په مقابله کي په پښوباندي دودریدلوله پاره اوس دروس پرځاي امریکا وسله ورکوي .

اوداسلسله به د۱۹۹۲ دجنوري دلومړي ورځي نه دهندوستان په واسطه ورکول کیږي وسله به دهندوستان وي اوقیمت به یي امریکا ورکوي .

٦ - خودافغانستان ټول سنګرونه داسي بریښي چي دمجاهدینو ځواني اولوړي حوصلي دکابل دحکومت پلویانواوپوځیانو ته سه په میړانه شکست اوماتي ورکولاي شي . اوانشاء الله دافغانستان پوره اومکمله آزادي دزیات وخت خبره نه ده په نړیواله سطحه چي کومي هلي ځلي رواني دي هغه هم دي خبروته اشاره کوي لکه څنګه چي څوورځي دمخه یوروسي هیئات اسلام آبادته راغي له مجاهدینو سره یي خبري وکړي دملل متحد عمومي منشي هم یونوي پنځه ماده ایز دامن پلان وړاندي کړچي په دي کي نړیوالوطاقتونو پوره دلچسپي واخسته همدارنګه روسر هم دلومړي ځل له پاره مجاهدینوته دنیغ په نیغه خبروله پاره مسکوته دورتللو دعوت ورکړ .

۷ - که څه هم چي دافغانستان په مسئله باندي دپاکستان ، ایران او مجاهدینو ترمنځ په اسلام آباد اوتهران کي مشوري وشوي، اوسایي په راتلونکي هم دوام پیداکړي خو که خبري له روس سره وي یادملل متحد له عمومي منشي سره مونږ ته داهیرول نه دي پکار اونه داسي باید ووایوچي له دي قسمه خبرونه مونږته هیڅ ګټه پلاس نه راځي ، تقریبا ٤۲ کاله دمخه مونږدکشمیر ګټل شوي جنګ دمیز په سرخبروبایلود. چي دهغي تاوان مونږ تراوسه هم نه دي جبران کړي په افغانستان کي هم دالله تعالي په فضل جنګ ګټل شوي دي . د ۱۳ کالو په جهادکي ددي وړاندي شوي دسولي اوامن پلان دجاج اخستلو له پاره سالم دماغ، لوي فکر، پوره تدبیراوپوهي ته ضرورت دي . ددي په هره خوادراولاړشوو نتایجوکي ژور فکرپکاردي . دمجاهدوتنظیمونو د مشرانواوقوماندانانو ګډومشوروته هم ضرورت دي . په دي وخت کي معمولي سهوه اوغلطي دافغانستان دګټل شوي جنګ له پاره هم خطرناك ثابتیداي شي . په آخره کي په څوپیشنهادونو سره خپلي لیکني ته خاتمه ورکوم .

۱ - داسي هیڅ یوپلان اولایحه ونه مني چي هغه دافغانستان دجهاد داهدافو اود مجاهدینو داسلامي حکومت په رامنځته کیدوکي خنډواقع شي . خداي (ج) مکړه که داسي وشول نوددي نه به نه یوازي افغانستان اوپاکستان ته زیان ورسیږي بلکي دکشمیر اوپه روسیه کي اسلامي جمهوریتونوته چي خپلواکي ته نژدي شوي دي په خطرکي پریوزي . ځکه چي په اوسني وخت کي دټولي اسلامي نړي له پاره دامید یوازیني منبع افغانستان دي .

۲- دروسيي اسلامي محكومو جمهوريتونو ته په دي وخت كي دډاډاواطمينان ضرورت دي خوكومو جمهوريتونو چي دخپلي ازادي اعلان كړي دي مگرتراوسه پوري دهغوي دآزادي نوعيت په پوره توگه نه دي واضع شوي داځكه چي له دي جمهوريتونو سره زمونږ مخابراتي اوترافيكي ارتباط نشته په كاردي چي دارابطي ژرترژره تينگي شي، هلته بايد زمونږ اخباري نماينده گان هم موجودوي، چي دهغه ځاي دنويو نويو حالاتو دپوهيدلو له پاره مونږ دغربي وسايلو په ابلاغ تكيه ونكړو .

۳- ددغونويو خپلواكو اسلامي جمهوريتونو دمثبتوحالاتو دښكاره كيدو سره بايد ټول اسلامي هيوادونه داومني، په اسلامي سرمشريزه كنفرانس اوملل متحدكي دعضويت حق وركړي ، بلكي پاكستان ، ايران اوتركيه يي بايد هم په هغه خپل منځي ترون كي شريك كړي چي څه موده دمخه يي لاسليك كړي وو .

٤- دي اسلامي ملكونو سره بايد سفارتي، تجارتي، تعليمي اوتبليغي اړيكي ژرترژره تينگي شي .

٥- الحمدلله نن هم دهغه ځاي خلك مسلمانان دي په تيرو ورځو كي دازبكستان ، تاجكستان اوقرغيزيه دائمه جومات يوهيئات دكراچي دارالعلوم ته راغلي و هغوي وويل : چي هلته دقرآنكريم (نسخوهم كمي دي) حديث، فقه ، اوددينې علومونوركتابونه هم تقريبا نشته ددي ضرورتونو دپوهيدلو، اوددي كتابونودپوره كيدوله پاره په مختلفوسطحو دتبليغي هيئتونو دليږلو ضرورت دي دهغه ځاي طلبه ووته ددينې تعليم دحاصلولو له پاره پاكستان ته دراتللو دعوت وركړل شي . دپاكستان ديني مدرسي په حكومت باندي دمالي بوج اچولو بغيرپه دي كي بايد ښه رول ولوبوي حكومت ته ددي نه استفاده كول پكاردي

٦- له دي دجمهوريتونو سره تجارتي هيئتونه ليږل راليږل داسلامي هيوادوخصوصا پاكستان دپرمختگ له پاره يوه نوي لارخلاصولي شي اوددي دپرمختگ له پاره زيات ضرورت دي .

۷- اسلامي سرمشريزه كنفرانس چي دخليج په بحران بانْدي جمود اوخمود پاتي شوي ، اودنړيوالوپه بدل شوُو حالاتوباندي غلي دي . هغه دي ژرترژره راوغوښتل شي ددي حركت اوفعاليت ته دوخت داسي ضرورت دي چي دهغه نه هيڅ يو بافكره اوپوه مسلمان انكارنشي كولاي .

په آخركي مي يوضروري عرض دافغانستان جهادي مشرانوته دادي چي : دخداي (ج) په لحاظ دوخت ارځښت اوقيمت له لاسه مه وركوي كه خپل منځي اختلافات بالكل له منځه نه وړي نوديوي مودي له پاره يي غلي كړي دخپلومشتركو اسلامي اهدافودلاسته راوړلو له پاره ديوبل سره مرسته اوتعاون وكړي . په اوسني وخت كي خپلي داسي تاريخ جوړونكي كارنامي ترسره كړي چي پرهغوي باندي راتلونكي نسلونه افتخاروكړي اوكه نه تاريخ دقومونو هغه دورهم نه هيروي چي يوه لحظه سهوه اوخطاوكړي نوپيړي پيړي دهغه سزامومي

بيانيه استاد ذره

كرد براي شش ماه يك حكومت موقت مي ساريم اين حكومت زمينه انتخابات را فراهم مي سازد و مابه رأى ملت رجوع مي كنيم .

ملت هر كه را كه صلاح مي بيند انتخاب خواهدكرد ، بايد براي ملتي كه ۱۳ سال خون داد احترام گذاشته شود - ملتي كه استعداد شكست دشمن رادارد ، استعداد انتخاب و اقامه حكومت را نيز دارا خواهد بود. اكنون روسها غرض صلح به مجاهدين رجوع نموده اند. رجوع روس به مجاهدين دليل عجز و نا تواني آنها است، چه صلح است كه روسها درطول ۱۳ سال به دستياري مزدوران افغاني وغلامان حلقه بگوشش، تا توانست اين ملت را كشت و بر سر آن آتش بازديد افغانستان را بويرانه مبدل ساخت و حالا ميگويداز درصلح پيش مي آيم ؟ از مطالب فوق الذكرچنين نتيجه گيري ميكنيم : اين همه افتخاراتي كه نما ميسر شد و نام ملت افغان رابتاريخ رنده ساخته و مابه آن احساس افتخار و سربلندي مي كنيم همه از بركت جهاد مقدس است كه درافغانستان براه افتاد - شما كه سرمايه بزرگ اين خاك هستيد و مستقبل اقغانستان بشما تعلق دارد اين راه زندگي ساز و جهاد را بخاطر داشته و باستحكام بخشيدن اين راه ودرتداوم جهاد خود را آماده سازيد ، انشاالله آينده افغانستان از آن شما ست و آخرو دعوانا ان الحمد لله رب العالمين .

دظالم
بسبل
پرمظلوم
ظلم دي

حضرت عمر (رض)

نبوي لارښوونې اونوي طبي څېړنې

دفایض
ژباړه

دمکروبونونظریې ترانکشاف وروسته دناروغتیاودسرایت تصورهم رامنځته شوي دي . دزیاترو ناروغیو لامل هغه کوچني اجسام ګڼلي شي چي په سترګونه ښکاري ، خودانسان وجود ته ورننوزي اوناروغي پیداکوي . دانظریه دنوي عصرد ترلویواوژوروڅېړنو وروسته وړاندي کړای شوه چي دناروغیو اومعالجې په دنیاکي یې یوه نوي هنګامه راپیداکړي ده ، دهغوپواسطه دناروغیو کنترول اوله هغو نه بچاوآسانه شوي دي، حال داچي دادنوي عصردعقیده نه بلکي له لرغونو زمانونه داډول تصورموندل کیده .

دیوناني طب په ځینوپخوانیوکتابوکي ځیني ناروغي ساري ګڼل شوي دي ددې مطلب دادي چي ځیني ناروغي داسې دي چي پریوه وخت دیوې سیمي دېرخلك اغیزمن کړي .

داسلامي طبیبانو په لیکنو کي هم داډول تصورموندل کیږي شیخ الرئیس ابوعلي بن سینادناروغیودخپریدولامل دهوا اواوبوخرابوالي ګڼي . ښکاره ده چي که دناروغیو پیداکوونکي مکروبونه له هوااواوبوسره ګډنه شي اویوبل ته ونه رسیږي نوساري ناروغي له، یوه نه بل ته نشي انتقالیدای . مشهورطبیب محمدبن زکریا رازي هم دسرایت یوڅرګند تصورذکرکړي دي. دهغه مشهوره پیښه ده چي په بغداد کي یې دروغتون دځای دغوره کولو لپاره یوه عجیبه لاره غوره کړه . هغه دښارپه مختلفو برخوکي دغوښو ټوټي ځوړندي کړي بیایې دهغي غوښې ځای چي ترټولو وروسته خرابه شوي وه دروغتون لپاره غوره کړهغه دښري اوچیچك ترمنځ توپیروکړ اوویې ویل چي داساري ناروغي دي .

په همدې توګه یې ددق سل (توبرکلوز) اوجذام له مرضونونه هم دلري توب لارښوونه وکړه اوویې ویل چي دهغوخواوشاته چي کومه هواوي هغه خرابه وي چي دهغې په وسیله ناروغي بل کس ته انتقال مومي .

په نبوي طب کي دناروغیودسرایت تصور :

دسرایت تصوردرسول اکرم صلي الله علیه وسلم په احادیثو کي هم موندلای شو مګرهغه په دې لرکي دپخوانیو اواوسنیو تصوراتوسره څه توپیر لري .

له حضرت ابوهریره (رض) نه روایت دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل :" سرایت هیڅ حقیقت نلري " یوه بدوي پوښتنه وکړه یارسول الله موږ ګوروچي په صحراکي زیاتره اوښان روغ رمټ وي، خوکله چي یوښاربښت نیولي اوښ په هغوپوري ځان ومږي نوپه هغوټولو ښاربښت ولګیږي اخردده لامل څه دي ؟

رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل چي لومړي اوښ نوڅه ډول په دې ناروغي اخته شو ؟ (صحیح البخاري ، کتاب الطب)

داحدیث یوډیرمهم حقیقت روښانوي هغه داچي سرایت پخپله موثرنه دي دخدای رسول دسرایت له فاعلي لامل ACTIVE CAUSE نه انکار کوي اوفرمایي چي دهغه پیداکوونکي په حقیقت کي الله تعالي (ج) دي که هغه وغواړي نوناروغي له یوه نه بل ته انتقالوي اوکه وغواړي نویوروغ سړي سره لدې چي له یوه ناروغ سره اوسیږي روغ رمټ پاتي کیږي .

له دې حدیث نه څرګندیږي چي دنبوي زماني دخلکوترمنځ داخبره روښانه وه چي له یوه ناروغ اوښ سره دروغ اوښ دیوځای اوسیدوله لامله روغ اوښ هم ناروغه کیږي. رسول اکرم صلي الله داخبره ردنکړه اوله سرایت نه یې انکارونه کړ بلکي دهغي په اړه دهغه وخت دسرایت پخپل ذات کي اغیزمن وي تصوریې رد کړاودهغې پرخلاف یې دانظرڅرګند کړ، چي دهغې فاعلي سبب الله تعالي (ج) دي له دې توجیه نه په حدیث کي موندونکي تعارض لري کیږي اودنوي علمي څېړنو له مخي هم حقیقت همدادي .

دسرایت دخپریدومختلف لاملونه ذکرشوي دي چي له هغونه ځومهم په لاندي ډول دي .

الف : دمرطوبو ذراتوپه ذريعه سرايت

DROPLETINFECTION

دخبرو پروخت دلارو توکولو یاپرنجیدلو پواسطه مرطوب ذرات په هواکي خپاره شي اوپه دي توګه په هغوکي موجود مکروبونه دوېمه نږدي کس ته هم انتقال مومي .

ب : داوبو پوسیله سرایت

WATER BORN INFECTION

په اوبوکي مکروبونه موجودوي ځومره خلك چي دااوبه استعمالوي هغوي له دي ځانګړي مکروب نه په پیدا کیدونکو ناروغیو اخته کیږي

AIR BORN INFECTION

ج : دهواپوسیله خپریدونکي سرایت

مکروبونه دهواپه وسيله له ناروغ سړي نه روغ سړي ته انتقال مومي اوهغه هم ناروغ کړي .

دحفظ الصحي په باب دنبوي لارښوونو معنویت :

رسول الله صلي الله علیه وسلم چي دخوړلو، څښلو، پاکوالي اوبدني نظافت اوورځنیو چارو په باب نظافت ته ځومره متوجه کړي یو که په هغو په سمه توګه عمل وشي نوله ساري ناروغیو نه په مکمله توګه نجات موندلای شو. په دي باب موردرسول الله صلي الله علیه وسلم ځوحدیثونه بیانوو.

الف : له ناروغ سره دغاړه غړي کیدو اویایوځاي ناستي ولاړي ممانعت :

رسول الله صلي الله علیه وسلم له ناروغ سره دیوځاي ناستي ولاړي نه ممانعت کړي دي اوحکم یي کړي دي چي ناروغان له روغوخلکونه لري وساتي . ابوسلمه بن عبدالرحمن فرمايي : چي ماله پیغمبر (ص) نه ابوهریره ته دا روایت اوریدلي دي چي " ناروغ سړي هیڅکله دروغ څنګ ته مه راوله" (بخاري کتاب الطب)

حضرت اسامه روايت کوي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل :" کله چي تاسي ته په یوه سیمه کي دطاعون دخپریدو خبرراورسیدنوهلته مه ځئ اوکه تاسي په داسي سیمه کي وئ چي هلته طاعون خپورشوي وله هغه ځایه مه وځئ : (بخاري ، کتاب الطب)

رسول الله صلي الله علیه وسلم دي خبري ته اشاره ضروري وګڼله چي داناروغي پخپله موثره نه ده بلکي دخداي درضاسره سم داسي کیږي . پردي اساس په یوه روایت کي راغلي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم یوځل له یوه جذام نیولي سړي سره ډوډي وخوړه اوپه دي توګه یي دساري ناروغیوپه باب داتصورځرګندکړچي ساري ناروغي پخپله موثري نه دي .

ب : دخوړلو اوڅښلو آداب :

په یوه روایت کي راغلي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم به چي ترخوراك وروسته دسترخوان

رسول الله صلي الله علیه وسلم له ناروغ سره له یوځاي ناستي نه منع کړي یو

ددي نبوي لارښووني دمعنویت اندازه ددي خبري نه معلومیداي شي چي نوي علمي څیړني دهغي مکمل تأیید کوي . ددي له مخي که چیري په یوه سیمه کي ساري مرض خپوروي نویوروغ سړي باید هلته ولاړنه شي اونه کوم ناروغ له هغه ځایه بل ځاي ته بوتلل شي ځکه چي په دواړو حالاتو کي روغ خلك بچ نشي پاتي کیداي . په همدي توګه په یوه حدیث شریف کي راغلي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي :" له یوه جذام نیولي کس نه دداسي وزغلي لکه زمري چي ګوري اوتري تښتي " (بخاري ، کتاب الطب)

له طبي څیړنونه معلومه شوي ده چي جذام که څه هم په لومړنیو مرحلوکي ساري ناروغي نه ده مګرپه پرمختللي حالت کي ساري کیږي .

له ناروغانوسره له ناستي ولاړي نه دممانعت سره سره هم

ټولاوه نودخداي (ج) شکربه یي اداکاوه (بخاري ، کتاب الاطعمه) له دي نه داهدایت ځرګندیږي چي ترخوراك وروسته باید دسترخوان ټول شي اوکه نه نومچان پري کیني اومچان دناروغیو دسرایت ترټولو لويه وسیله ده . په همدي توګه رسول الله صلي الله علیه وسلم په ښي لاس دخوراك امرکړي دي .

حضرت عبدالله بن عمر(رض) روایت کوي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایلي چي څوك دي په خوراك اوڅښاك کي کیڼ لاس نه استعمالوي ځکه چي شیطان په کیڼ لاس خوراك اوڅښناك کوي . (ترمذي کتاب الطعمه)

په ښي لاس خوراك کي طبیعي نظافت په پام کي ساتل شوي اوکیڼ لاس دطهارت لپاره مختص شوي دي . دخوراك له نظره هم دامسئله په پام کي نیول شوي ده چي له استنجانه وروسته دپاکوالي په پام کي نه ساتلو په

صورت کي کېږي لاس امکان لري چي په مکروبونوککړوي . رسول الله صلي الله عليه وسلم ترخوراك وروسته هم دلاس پرېمينځلو هدايت کړي دي (بخاري ، کتاب الاطعمه) ښکاره ده چي دلاس پرېمينځلو پرته دکارکولو پروخت لاسونه خيرن اودمکروبونو دخپرېدو امکان وي .

رسول الله صلي الله عليه وسلم داوبو دصافولو لارښوونه هم کړي ده وېي فرمايل :" څوك چي له خوبه راپاڅي نو داوبو په لوښي دلاس ترننه ايستلو ړومبي دي خپل لاس دوه دري ځله پرېمينځي ځکه معلومه نه ده چي دخوب پروخت دهغه لاس چيرته چيرته و (ترمذي ، ابواب طهارت)

داحاديثو ځېرونکو ليکلي دي چي داحکم ددي لپاره شوي وو چي هغه وخت به خلك په جنگونوکي مصروف و ، دهغوي پربدنونوبه زخمونه و چي دخوب پروخت به په هغولاس لگيده ، ليکن اوس داډول تاويلونو ته څه اړتيا نشته که سري روغ وي هم دطب له نظره دلاسونو پرېمينځل ضروردي . حضرت پيغمبرصلي الله عليه وسلم داوبو دپاکوساتلو په باب هم فرمايلي دي :" هيڅوك دي په ولاړو اوبوکي متيازي نه کوي " (ترمذي ابوابطهارت)

داوبو دنظافت په پام کي نيولو سره رسول الله صلي الله عليه وسلم داوبوڅښلو پروخت په لوښي کي ساه اخستل اوياله اوبوپوکولو منع کړي ده . حضرت انس رضي الله عنه فرمايي : رسول الله صلي الله عليه وسلم داوبوڅښلوپروخت دري ځلي (دلوښي نه بهر) ساه اخسته (بخاري ومسلم) حضرت ابوقتاده فرمايي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په لوښي کي له ساه اخستونه منع کړي ده (بخاري ومسلم)

حضرت ابن عباس (رض) فرمايي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل " داوبښ په څېرپه يوه ساه اوبه مه څښئ بلکي دوه يادري ځله يي په دمه دمه وڅښئ کله دي چي اوبه څښئ پيل کړئ نودالله (ج) نوم اخله اوکله دي چي اوبه وڅښلي نودهغه حمدووايه (ترمذي)

په يوه بل روايت کي دي چي يوه سړي عرض وکړ" زه په يوه ساه نه مړېږم " (نوڅکه اړکيږم چي په لوښي کي ساوباسم) رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل :" لوښي له مخي نه لري کړه اوساه واخله " (ترمذي) له حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول کريم صلي الله عليه وسلم په لوښي کي له ساه اخستواوياپوکولونه منع کړي ده . (ترمذي - ابواب الاشربه)

حضرت ابوسعيد خدري (رض) فرمايي چي يوځل رسول اکرم صلي الله عليه وسلم له پوکولو نه منع وکړه ، يوه کس ووېل که په هغوکي کوم خلي په نظرراشي نوڅه وکړم ؟

ويي فرمايل لرشانته اوبه توبي کړه چي هغه خلي ولوېږي . (ترمذي ، ابواب الاشربه)

درسول الله صلي الله عليه وسلم ددي لارښوونو دمعنويت اندازه له نووطبي علمي لارښوونو نه څرگند يږي . دفزيولوژي له علم نه معلومه شوي ده چي په ساه اخستلو کي داکسيجن اندازه ۲۱ فيصده دنايتروجن اندازه ۷۹ فيصده اودکاربن داي اکسايداندازه ۵ فيصده وي له دي امله هغه هوا چي په اخستلوکي بيرته راوځي خطرنه دوه دري فيصده تڼدي وي په همدي توگه ځيني غازونه هم په اوبوکي دپوکي پواسطه حل کيږي اودروغتيا لپاره مضروي . په همدي ترتيب سره دساايستلو پروخت دمختلفو مرضونو لکه دستوني امراض، توبرکلوز اوداسي نورو په سلگونو زره مکروبونه له اوبوسره گډيږي اوڅوك چي په هغه لوښي کي اوبه وڅښي هغه ته انتقال مومي .

ج : دلوښو دپاکوساتلو لارښووني

رسول الله صلي الله عليه وسلم دنظافت په پام کي ساتلو لپاره دلوښو دپاکوساتلو لارښووني کړي ده . له حضرت جابر(رض) نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل :" کله چي دشپي ځملي ، نوڅراغ مړکړي ، دروازه بنده کړي د مشك خوله وتړي اودخوراك اوڅښاك دلوښو سوېکړي" (بخاري کتاب الاشربه، ترمذي ابواب الاطعمه) دنظافت په پام کي ساتلو لپاره رسول الله صلي الله عليه وسلم دغيرمسلمانو په لوښوکي له خوراك اوڅساك نه منع کړي ده ، ځکه چي هغوي دپاکوالي رعايت نه کوي .

حضرت ابوثعلبه خشني فرمايي چي ماله رسول الله صلي الله عليه وسلم نه وپوښتل چي زموږپه سيمه کي اهل کتاب اوسي آيادهغوي په لوښوکي څه خوړلاي شو ؟

رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل :" که بل لوښي پيداکيداي شونوپه هغوکي څه مه خوري اوکه نه نولومړي هغه ښه پرېمينځي اوبيايي استعمال کړي " (بخاري ، کتاب الذبائح والصيد)

که چيري سپي په لوښي کي سردننه کړي نورسول الله صلي الله عليه وسلم دهغه لوښي دښه پرېمينځلو هدايت کړي دي .

حضرت ابوهريره (رض) فرمايي نبي کريم صلي الله عليه وسلم حکم کړي دي چي :" که چيري سپي په کوم لوښي کي سردننه کړي نوهغه دي اووه ځلي پريمنځل شي چي لومړي او وروستي ځل يي په خاوره سره وي اوکه پيشو سردننه کړي نومازي يوځل پريمنځل کافي دي " (ترمذي ابواب الطهاره)

له دي روايت نه دوه شيان ځرګنديږي :

لومړي داچي دسپي په لاړوکي ضرور کوم خاص شي موجودوي چي ددومره پريمنځلو هدايت شوي دي .

دويم داچي په خاورکي ضرورکوم داسي خصوصيت شته چي دهغي پواسطه هغه اثرات له منځه ځي . اوږدوتجربو اومشاهدو اوطبي څيړنو دواړه حقيقتونه روښانه کړي دي . څيړنو ځرګنده کړي چي دسپي په لاړوکي يوخاص ډول مکروب وي چي (RABIESVIRUS) نوميږي . له هغه نه نهايت يومهلك مرض پيداکيږي چي دهغه مرض دپيداکيدونه وروسته مريض نشي بچيداي .

په همدي توګه څيړنو داهم ثابته کړي ده چي په خاوره کي له نورو اجزاو پرته په زياته اندازه نوشادر، شوره ، امونيم اوکلسيم اکسايد موجودوي چي دهغو پواسطه داړول ويروس له منځه ځي .

دپرنجي اولاړو توکولو آداب :

دالله[٩] رسول[١] دپرنجي اولاړوتوکولو آداب هم بيان کړي دي . حضرت ابوهريره (رض) فرمايي کله به چي رسول الله پرنجل نوپرمخ (اوپوزه) به يي لاس ياتکه ايښودله او آوازبه يي ټيټاوه . (ابوداود، ترمذي)

ددي عمل دمصلحت اوحکمت اندازه له دي خبري نه معلوميداي شي چي له نووطبي څيړنونه معلوميږي چي ډيري ناروغي دټوخي او ږنجي دسرايت پواسطه خپريږي . دبرقي مايکروسکوب پواسطه معلومه شوي ده چي دپرنجي پواسطه په يوه دقيقه کي يوولس لکه ذرات په هواکي خپريږي په دي ذروکي دمکروبي تسلط درامنځته کيدو صلاحيت موجود وي . داذرات له ١٢ نه تر ٣٠ دقيقو پوري دخپريدو صلاحيت لري اوترنيم ساعت پوري په هواکي لامبوهي په دي توګه په دوکي دانفلوائنزا ، چيچک ، شري ، دستوني دامراضو، توري ټوخلي ، نمونيا اودق مکروبونه شامل اودنارو غتياودپيداکولو لامل کيداي شي . په دي ترتيب سره رسول الله صلي الله عليه وسلم له بي ځايه توکولونه منع کړي ده .

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي : چي دخداي رسول صلي الله عليه وسلم وفرمايل : " په جومات کي توکول يوغلط کاردي دهغه تلافي داسي کيداي شي چي هغه پټي کړاي شي " (بخاري اومسلم)

جومات دعبادت ځاي دي هلته خلك دعبادت لپاره راځي پدي اساس بايد دجومات نظافت ته خاصه پاملرنه وشي . که دجومات فرش پوخ و نوبايد چي په ښه توګه پاك شي . دخداي (ج) درسول (ص) دلارښوونو معنويت له دي نه معلوميږي چي ډيرمهلك مرضونه دلاړو توکولو پواسطه خپريږي .

ځوك دي په خوراك اوڅښاك کي کيڼ لاس نه استعمالوي ځکه چي شيطان په کيڼ لاس خوراك اوڅښاك کوي

« الحديث ، ترمذي ، کتاب الاطعمه »

حضرت ابوامامه رضي الله عنه روايت مي کند که پيامبرعليه السلام فرمودند : کسي بالاي يتيمي دست بکشد وبخاطر خدادست بکشد، برابرموي بدن آن يتيم برايش نيکي نوشته مي شود وهرکه بايتيمي سلوك نيك کرد اوومن درجنت مي باشيم ودرين وقت پيامبر(ص) هردوانګشتانش راباهم نزديك کردند

بحثي پيرامون حقوق العباد از نظراسلام

ترجمه وحدتيار

إن الله يأمر بالعدل والاحسان وايتاي ذي القربي ....
النحل آيه ٩٠)

ترجمه: به تحقيق خداوند امر مي كند به عدل و احسان وعطا كردن به صاحبان قرابت : خداوند حكيم درايه فوق به سه چيز امرمي كند كه آراستگي وپيراستگي جوامع بشري راتضمين مي كند.

عنصر اول عدلست كه ازدوحقيقت مستقل ساخته شده است. يكي اينكه ميان حقوق مردم توازن وتناسب بر قرارباشد.

دوم اينكه به هركسي حقش بدون تعصب وجانب داري پرداخته شود.

بعضي ها عدل را به معني انصاف تصورمي نمايند كه مفهوم برابري ومساوات از آن ترشح مي كند يعني اينكه تقسيم حقوق بايد دربين مردم به اساس مساوات صورت گيرد . درحاليكه عدل به معني توازن وتناسب درحقوقست نه برابري ومساوات . گرچه دربعضي موارد عدل تقاضاي مساوات را هم مي كند بطورمثال ميتوانيم ازحقوق شهريت نام ببريم ولي دراكثرموارد ديگراگرعدل را به معني انصاف تعبيرنمائيم مفهوم آن سراسزدگرگون مي شود . مثلا دررابطه با حقوق اجتماعي واخلاقي والدين واولاد همچنان حقوق دربدل خدامات بزرگ وبه سطح پائين دربين موارد نمي توان اصل مساوات درحقوق رامراعت كرد.

پس تقاضاي اين حكم پروردگار عالم اينست كه به هر شخص حقوق‌اخلاقي ، اجتماعي سياسي اش را كه متوازن ومتناسب حال او است باكمال امانت داري وديانتداري بدون اعمال هيچ نوع تعصب وربط نامشروع بدهيد .

دوم احـسانست كه معني برخورد نيك ،همدردي ، روا داري ، فياضي ، عفو ودرگزر،مراعات يكديگر ، به ديگران اضافه از حقوقش پرداختن وخود به كمتر راضي شدن رامي رساند.

احسان يك چيز زايد ازعدل است كه ازنظرزندگي اجتماعي نسبت به عدل اهميت بيشري رادارامي باشد . اگرعدل تلخيها وناخوشگواري هاي اجتماع را رفع مي كند ، احسان درآن خوشگواري هاشريني ها ايجاد مي نمايد.

يك جامعه فقط.به اين اساس استوار مانده نمي تواند كه افراد آن هروقت نگران حقوق بوده وبه كفه ميزا چشم دوخته باشند كه حقوق ديگران چه مقدار است تا اداكند وحقوق اوازچه قراراست تا به همان اندازه بگيرد .اجتماعي به اين اوصاف يك اجتماع سرد وبي حس محسوب مي شود گرچه شايد از كشمكش خالي باشد.

ولي از ارزش هاي هم محروم خواهد بود كه درجامعه لطف وحلاوت ايجاد كرده ،محاسن اجتماعي رارشد مي دهد.

مطلب سوميكه دراين ايه كريمه تذكررفته صله رحمي مي باشد كه گويا يك شكل بخصوص ازاحسا ن است نسبت به اقارب وخويشاوندان ، معني صله رحمي تنها اين نيست كه انسان بااقارب وخويشاوندان خود به وجه احسن پيش آمد كند. درغم وشادي با آنها شريك باشد، درحدود جايزو مشروع حامي ومددگار آنها گردد ،بلكه ازتقاضاي صله رحمي اين هم است كه درمال ودارايي خويش ·علاوه برتثبيت حقوق خود ،اولاد وخانواده خويش آقارب وخويشاوندان خود رانيز سهيم بداند.

ازنظر اسلام هر فرد مرفه وصاحب ثروت نسبت به تمام افراد مربوط خويش كه با رشته هاي قرابت وخويشاوندي باهم مربوط اند ، مسؤوليت دارد كه از نگاه مالي واقتصادي به آنها توجه داشته باشد واز آنها بازرسي نمايد.

اسلام جامعه ايرا كه بعضي افرادش ازفرط مالداري وثروت مصروف عياشي مي باشد درحاليكه متباقي افراد مربوط آن از غربت ،توان خوراك وپوشاك خويش را ندارند ، سخت محكوم مي كند .

اسلام خانواده را عنصرمهم ازساخت وتركيب جامعه قرارميدهد و اولين حقوق افراد غريب ونابسامان رابالاي افراد ثروتمند وآسوده حال خانواده هاي آنها حمل مي كند بعدا ديگران رامسؤول ميدانند. به همين ترتيب برافراد مرفه وآسوده حال لازم ميدارد كه درقدم اول ازحقوق اقارب وخويشاوندان خود پاسداري كنند بعدازآن به طرف ديگران توجه نمايند.

همين حقيقت را پيامبر گرامي اسلام طي ارشادات گوناگون

خويش توضيح مي نمايد . چنانچه در روايات متعدد آماده است که درقدم اول حقوقيکه بالاي انسان عايد مي شود همانا حقوق والدين است بعد ازآن حقوق اولاد واهل خانه ، بعد ازآن حقوق برادر وخواهر وبه همين تريب آنکه قريبتر باشد حقوقش نيز مقدمترمي باشد.

روي همين اساس حضرت عمر رضي الله عنه پسران کاکاي يك يتيم را وادارنمود تا او را پرورش وتربيت نمايند. وراجع به يتيمي ديگر فرمود که اگر کدام خويشاوند خيلي دورآن هم مي بود اورامسؤول پرورش وکفالتش مي گردانيد . تصور کنيد که اگر جامعه اي به اين اوصاف وجود داشته باشد که هرواحد آن از افراد مربوط خويش بدين منوال پاسداري نمايد ،درآن رفاه وآرامش ازنظر اقتصادي ،حلاوت وشريني ازنظراجتماعي وپاکيزگي وصفايي ازنگاه اخلاقي بکدام پيمانه وجود ميداشت.

بعدازين بحث اصولي اکنون پيرامون بعضي ازحقوق مشخص چيزي ارائيه مي کنيم.

خداوند درمورد حقوق والدين مي فرمايد : وبالوالدين احسانا (

اجتماع ازنگاه اخلاقي طوري عيارگردد که اولاد را نسبت به والدين بي نياز نساخته بلکه همه وقت مرهون احسان وپابنداحترام به آنها داشته باشد.

اولاد بايد درسن پيري وکهولت از والدين خويش چنان پاسداري نمايند ، طوريکه والدين درايام طفوليت بااولاد خويش مي کردند .

آيه فوق شکل ترغيب وتشويق راندارد ، بلکه حکميت است که به اساس آن تمام حقوق وصلاحيت هاي والدين مقرر گرديده ، چنانچه ما.

تفصيل اين حقوق رادر کتب حديث وفقه مطالعه مي نمائيم .

اسلام نه تنها درين مورد حکم مي کند که از حقوق والدين پاسداري کنيد وآنراضايع ننماييد بلکه نگراني ازحقوق والدين اطاعت واحترام آنها را جزء مهم ارتقاي ذ هني واخلاقي جامعه اسلامي وتهذيب مسلمانان قرار ميدهد . به همين علت حکومت اسلامي وقوانين اداري آن به استحکام واستواري اداره خانواده تاکيد مي کند وتلاش مي ورزد که اين اداره به ضعف دچار نگردد.

اکنون بيائيد ببينيم که اسلام راجع به حقوق سايل ومحروم يعني افراد بي بضاعت وناتوان جامعه چه

